# مسوده:

**دافغانستان اسلامي جمهوريت**
**پوهنې وزارت**
**ښوونکو د روزنې لوی رياست**

**پښتو گرامر لومړی برخه:**
**( فونو لوژي)**

**پښتو ځانگې لومړي سمستر لپاره**

**مؤلف: پوهنمل محمد آقا شيرزاد**

**کال: ۱۳۸۶- لمريز**

(الف)

## دسکالو(موضوع)اتو لړليک


| سکالو(موضوع) | _ | مخ |
| --- | --- | --- |
| سريزه | _ | |




Download from:aghalibrary

لومړی څپرکی:
پښتو پښوىه (ګرامر) _
ژبپوهنه _
دژبپوهنې څانګې:
الواکي ( نظري ) ژبپوهنه _
کاروني ( تطبيقي) ژبپوهنه _
دنظري ژبپوهنې مشهورې څانګې:
۱- تشريحي ژبپوهنه _
۲- تاريخي ژبپوهنه _
۳- مقايسوي ژبپوهنه _
فونولوژي _
فونيټکس اوفونيميکس _
دفونيټکس ياغږ پوهې څانګې: _
۱- توليدي غږ پوهه _
۲- ازماييښتي يا لابراتواري غږ پوهه _
۳- اوريزه غږ پوهه _

(ب)

**سکالو(موضوع)** **مخ**

**وينابيز يا ګړ هاري غړي:**
۱- ژبه
۲- خوله
۳- غاښونه
۴- ستونی
۵- غړيز مزي
داوازونو وتونځي
ښوريدونکي صوتي غړي
نه ښوريدونکي صوتي غړي
**زيږد ډولونه (شيوه هاي توليد):**
۱- تم يا انسدادي
۲- پزيزيا خيشومي



Download from:aghalibrary

۳- مښلي – سايشي ( احتکاکي)
۴- رغښتي ( لرزشي)
۵- اړخيز - کناري
۶- نامښلي - ناسوده
۷- پورغږ يا مستعار صوت
فون ، فونيم ، الوفون
پوښتنې

(ج)

**سکالو(موضوع)** -

**مخ**

**دوهم څپرکی:**

پښتو آواز پوهه

۱. دپښتوژبې لومړني اوازونه

لومړی – خپلواك ( واول) اوازونه

دخپلواك ( واول) اوازونو د تشريح اصول

۱- الف مد دار ( آ) -/ ā / :
۲- زوريافتحه (۱) - / a /
۳- پېښ - / u /
۴- زير - / I /
۵- زورکی - / ə/
۶- اوږد ( واو) - / o /
۷- څرگند ( واو) - / ū /
۸- اوږده (ې) - / e /
۹- څرگنده (ي) - / i /

دخپلواك ( واول) اوازونو جدول



Download from:aghalibrary

(د)

**دوهم – بيواك يا ناخپلواك ( Consonants ) آوازونه:**

دبيواك يا كانسوننت اوازونو د تشريح اصول.
دبيواك ( كانسوننت) آوازونو وتوځي:
خوځند وتوځي
ناخوځند وتوځي
دغږ ( آواز) زيږد ډول اوليار
دغږ زيږ ډول او غږ زيږد او وتوځو له مخې د بيواك آوازونو ډولونه:
اول- تم بيواك ( انسدادي) اوازونه:
١- ( ب ) - / b /
٢- ( پ ) - / p /
٣- ( د ) - /d/
۴- ( ت ) - / t /
۵- ( ډ ) - / ḍ /
۶- ( ګ ) - / g /
٧- ( ك ) - / k /
٨- ( ټ ) - / ṭ /

(ه)


| سكالو(موضوع) | - | مخ |
|---|---|---|
| **دوهم – مښلي ( احتكاكي)بيواك اوازونه: -** | | ۴٧ |


١- ( س ) - / s /
٢- ( ز ) - / z /
٣- ( ش ) - / š/
۴- ( ژ ) - / ž /
۵- ( ښ ) - / ṣ /



Download from:aghalibrary

۶- ( ږ ) - / ẓ /
۷- ( خ ) - / x /
۸- ( غ ) - /γ / /یا/ ğ /
۹- ( هـ ) - / h /
دریم – اړخیز ( مایع) بیواك اوازونه:
۱- ( ل ) - / ℓ / یا / L /
۲- ( ر ) - / r /
۳- ( ړ ) - / r /
**څلورم – پزيز( انفي يا خيشومي) بيواك آوازونه**
۱- ( م ) - / m /
۲- ( ن ) - / n /
۳- ( ڼ ) - / ṇ

(و)

**<u>سکالو(موضوع)</u>** - **<u>مخ</u>**

**پنځم- تم مښلي بيواك آوازونه:** -
۱-( څ ) - / c /
۲-( ځ ) - / Ĵ /
۳-( چ ) - / č /
۴-( ج ) - / j /
په پښتو کې دعربي ژبې دخیل یا مستعار فونیمونه
<u>دریم</u>- نیمواك یا سیم واول ( Semi vowels ) آوازونه:
۱-( و ) - / w /
۲-( ی ) - / y /
څلورم: غبر گغرونه ( دیفتانگ) ( Diphthongs )
– د ( و = w ) غبرگغرونه
– د ( ی = y ) غبرگغرونه
دپښتو بیواکو اوازونو جدول
پوښتنې

(ز)

**دريم فصل:**

مورفو فونيميکي بدلون

**دمورفو فونيميکي بدلون مشهور قسمونه:**

| | |
|---|---|
| اسيميليشن | ( Assimilation ) |
| پراګريسيو اسيميلېشن | ( Progressive Assimilation ) |
| ريګريسيو اسيميليشن | Regressive Assimilation |
| ديسيميلېشن | Dissimilation |
| قلب – | Metathesis |
| دفونيمونو غورځيدل يا حذفيدل | ( Omission ) |
| دفونيمونو زياتوالی يا افزايش | ( Addition ) |

دپښتو ژبې بشپړه فونيميکه الفبې

اخځليکونه

## سریزه

دژبې دپیدایښت تاریخ د انسان دپیدایښت دتاریخ سره تینګې اړیکې لري.
هغه وخت چې د ادم (ع) خلقت وشو او بې بې هوا پیدا شوه او بیا دلوي څښتن تعالی په امر په خلافت وګمارل شول او دنسل د زیاتیدو هدایت ورته وشو، نو جوته ده چی دژبې له نعمته یې برخمن کړل.
دوی دخپلو غوښتنو د لیږد رالیږد لپاره غږونه ایستل. په خاص ډول ژبه هم هغه آوازونه دي چې انسانان یې دخپلو افکارو او خیالاتودڅرګندونو په غرض تریو ځانګړي نظم او سیستم لاندې دغږیزو غږو په وسیله له خولې څخه را باسي او په دې توګه یو له بله سره اړیکه تینګوي.
په نړۍ کې ډیرې ژبې موجودې دي ، مګر داژبې د داخلي ساختمان او جوړښت له مخې کټ مټ یوشان نه دي. دیوې ژبې رغښت او جوړښت په بشپړډول دبلې ژبې دجوړښت او ساختمان سره یو راز نه وي بلکې توپیر سره لري.
هره ژبه ځانته درغښت او ساختمان ځانګړی نظام لري او دغه نظام دژبې درغښت په هره مرحله کې موجود وي.
کله چې یوه ژبه څیړو او مطالعه کوو یې نو دهغې ژبې دغږونو او اوازونو جوړښت ، دمانا لرونکوعناصرو یعنې مورفیمونواو کلیمو جوړښت دعبارتونو ، ترکیبونو او جملو جوړښت ترڅیرنې او مطالعې لاندې نیسو چې په نوې ژبپوهنه کې دتشریحي ژبپوهنې دغې برخې ته ګرامر وایي

**دژبې ګرامر دژبې دجوړښت دغه نظامونه تشریح کوي:**

الف ـ دغزیز (صوتي)ساختمان نظام ( فونولوژي)

ب - دګړنيز(صرفي) ساختمان نظام ( مورفولوژي)
ج - دغونډليز(نحوي) ساختمان نظام ( سنتکس )
پښتو ګرامر مضمون چې دښوونکو دروزنې عالي موسسو پښتوڅانګې دوه کلنه دوره کې يې تدريس ته درې سمستره ځانګړې شوي دي په هر سمستر کې دپښتو ژبې دساختمان ددې درې نظامونو څخه يو ساختماني نظام تدريس کيږي.
داچې دژبنيو آوازونو څېړنه دژبې دڅېړنې مهمه برخه ده او همدغه دژبې لومړني توکونه يا آوازونه دي چې ژبه ترې رغيدلې ده نوځکه مو غوره وګڼله چې په لومړي سمستر کې دپښتو ژبې فونولوجي تدريس کړو.
په دي لومړي کورس کې دپښتو ګرامر لومړۍ برخې ( فونولوژي) ته په اوونۍ کې دوه کريدته ټاکل شوي يعنې يو درسي ساعت ديوه کريدت معادل محاسبه کيږي چې په ټول سمستر کې (۳۲) درسي ساعته کيږي. په لومړي سمستر کې فونولوژي يو اساسي او اختصاصي مضمون دی.
دمضمون درسي منځپانګه او سکالوې(سکالو(موضوع)ګانې) په درې څپرکو يا برخو کې په لاندې ډول اماده شوي دي:

لومړي څپرکي يابرخه کې:
پښتو ګرامرپيژندنه، دژبپوهنې څانګې، فونولوژي د تشريحي ژبپوهنې يوې څانګې په ډول، فونيټکس او فونيميکس دغږپوهې او آوازپوهې څانګې او ډولونه، دانسان صوتي غړي او داوازونو زيږد ځي او زيږډولونه ، فون، فونيم او الوفون پيژندنه ځای کړل شوي.
دوهم څپرکي يا برخه کې:
په پښتو ژبه کې دآوازونو ډلې يا ډولونه:
( خپلواک ، ناخپلواک ، نيمواک ، غبرګغږونه ) او ددې آوازونو د تشريح اصول څېړل او تشريح شوي دي.
دريم څپرکي کې:

مورفو فونيميکي بدلون او دهغې ډولونه او ددي تر څنګ پښتو بشپړه فونيميکه الفبا راوړل شوې ده.
بې له شکه دهرې برخې زده کړه او تدريس يې دڅانګې دزده کړ يالانو لپاره ګټورې پايلې لري.
زده کړيالانو! دفونولوژي کورس جوړول او تدريس تا سوته په درسي ، تدريسي چارو او هم په ورځيني ژوند کې ځانګړی ارزښت لري. ځکه ددې مضمون د تدريس اوزده کړې سره به تاسو پوه شئ چې ژبه څنګه رغيدلې او منځ ته راغلې ده.

- دژبې دجوړښت غوره نظامونه کوم دي؟
- په ځانګړي ډول به دپښتو ژبې ځانګړي اوازونه ، دخيل او مستمار آوازونه او هغه صوتي غړي چې دا اوازونه پکښې توليديږي د خپلو ټولو ځانګړ نوسره وپيژنئ
- هغه فونيميکي او مورفونيميکي اوړن او بدلونونه چې دمختلفو محيطي عواملوله امله چې په ژبنيو توکو ( څپه ، مورفيم او کلمه ) کې رامنځ ته کيږي دهمدې مضمون په زده کړې سره تاسو پيژندلای شئ .

که دغه فونولوژي مضمون کورس داير نه شي تاسو زده کړيالان به هيڅکله ددې جوګه نشئ چې دپښتوژبې خپل توري ، دخيل او مستعار توري او ددې تورو اوغږونو د زيږد ځايونه او زيږد ډولونه وپيژنئ او نورچاته ژبه ور زده کړای شئ.
کله چه يوه ژبه زده کوو يا يې بل چاته ور زده کوو ، که دهغه چا ځانګړې ستونزې او مشکلات چې د نوموړې ژبې په زده کړه کې يې لري په پام کې ونيول شي نو د ژبې زده کړه او تدريس به په برياليتوب پای ته ورورسيږي دژبې ښوونکي به هاله دژبې دتدريس په صورت کې بريالی وي چې دژبې دساختمان په نظامونو باندې پوه وي او دژبې دساختمان په هره برخه کې پراخه مطالعه ولري.
داچې تاسو زده کړيالان به د ژبې او ادب ښوونکي وئ نوديو ښوونکي له دندې سره ښايي چې هغه په پورته ياد شوو ټکو پوه وي او دا پوهه ددې مضمون ياد فونولوژي کورس دتدريس په صورت کې ترلاسه کيږي.

**لومړی څپرکی:**
**منځپانګه:**

- ګرامر او برخې يې
- ژبپوهنه او څانګې يې
- فونيټکس او فونيمکس
- دفونيټکس يا غږ پوهې درې بنسټيزې څانګې
- دانسان غږيز(صوتي) غړي
- زيږد ډولونه
- د فون، فونيم اوالوفون پيژندنه

**دتدريس ټوليزې ( عمومي) موخې:**

ددې څپرکي دتدريس او زده کړې په ترڅ کې به زده کړيالان په دې وتوانيږي چې:
- پښتو ګرامر وپيژني او برخې يې تشخيص کړای شي.
- د ژبپوهنې تعريف به وکولای شي اوځانګې به يې توضيح کړای شي.
- فونيټکس او فونميکس به دغږ پوهنې ددوو بنسټيزو برخو په توګه توضيح کړای شئ.
- ښوريدونکي او نه ښوريدونکي غږيز( صوتي) غږي به يو له بله توپير کړای شي.
- داوازونو مخرجونه اود مخرجونو ډولونه به وپيژني، او دهر اواز مخرج به څرګند کړي.
- وينايز يا ګړهاري غړي به يې پيژندلي وي او داوازپه توليد کې به يې تشخيص کولای شي
- د فونيم په تاريخ به پوه وي او د يو فونيم بيلابيلې بڼې به تشخيصولی شي.

**پښتو پښويه ( ګرامر)** ( Grammar )

پښتو پښويه ، پارسي دري دستور زبان ، انګليسي ( Grammar ) او لاتينی بڼه يې Grammatia ده ، چې ژبپوهنه مانا لري.

په عام ډول ګرامر د کارونی او بيا د الواکۍ ژبپوهنې يوه څانګه ده چې ديوې ټاکلې ژبې رغاونې سيستم او جوړښت په علمي ډول ترکتنې لاندې نيسي.

څنګه چې هره ژبه ځانته جلا رغاونيز سيستم او لغوي پانګه لري نو ديوې ژبې دګرامر په ليکنه او برابرونه کې د هماغه ژبې خپله رغاونه ، ساختمان ، قاعدې او لغوي پانګه په پام کې نيول کيږي.

ديوې ژبې ګرامر دبلې ژبې له پاره په کار اچول يا ديوې ژبې ګرامر هوبهو دبلې ژبې د ګرامر په پيښو او تقليد ليکل ژبپوهنيز يا علمي نه بلل کيږي.

په دوديز ډول ګرامر په ښوونځيو او زده کړځيو کې داړوندې ژبې يا دهغې دمعياري ليکنې بڼې داسانتيا لپاره لوستل کيږي او دهغې په مرسته پردۍ ژبې يا ټاکلې ژبې په اسانه زده کولای شي.

دمورنۍ ژبې ويونکي دګرامر په مرسته دخپل ځانګړي ګړدود پرځای عمومي کره ليکنۍ ژبه زده کوي اوکاروي.

ګرامر دخلکو له ژبې را ايستل کيږي او بيرته پرهغو يوبرابر او بې توپيره تطبيقيږي.

دژبې رغنده توکي ( متشکله عناصر) انساني غږونه ، اوازونه ، کلمې او مورفيمونه ، عبارت او جملې په هره ژبه کې ځانته بيلا بيل دودونه او قاعدې لري ، په دې توګه که وغواړو ديوې ژبې ساختمان وڅيړو پر دغو دريو څانګويې ويشو: ۱- اوازپوهه يا فونيم پوهنه . ۲- ګړ پوهه يا مورفيم پوهنه. ۳- غونډله پوهه ( نحو ) سنتکس

څرنګه چې دپښتو ګرامر لومړۍ برخه فونيم پوهنه ده او دا برخه د تشريحي ژبپوهنې ديوې څانګې په ډول ترکتنې لاندې نيسو نود اړوندتيا له مخې به لومړی په ژبپوهنه اودهغې پرڅانګو رڼا واچوو.

## ژبپوهنه: ( Linguistics )

دژبپوهنې نړیواله نومونه ( اصطلاح ) لینګو یستیکه بلل شوې ده چې انګلیسي بڼه یې لینګویستکس ( Linguistics ) ده ریښه یا بنسټ یې لینګوه ( Lingua ) لاتین دی چې مانا یې ژبه ( لسان ) ده استیکه ( Astica ) روستاړی ( لاحقه ) ورسره له یو نانې ژبې څخه یوځای شوی دی چې پوهنې ته ورته مانا لري. یعني هغه پوهه چې ژبه او دهغې څرنګوالی ، جوړښت او راز ، راز ژبني مسایل ترکتنې او څیړنې لاندې نیسي.

**دژبپوهنې څانګې:**

ژبپوهنه دڅیرونکو د موخې ( هدف ) او کار داسانتیا په غرض لومړی په دووڅانګو ویشل کیږي:

۱. الواکي ( نظري ) ژبپوهنه ( Theoritical Linguistics )

په ټولیز ډول دژبپوهنې په دې څانګه کې هغه پر نسیپونه او عمومیات څیرل کیږي چې دنړۍ په هره ژبه کې کارول کیدای شي.

۲- کاروني ( تطبیقي ) ژبپوهنه – Applied Linguistics هماغه توکونه او معلومات چې نظري ژبپوهنې را منځ ته کړي وي په ژبښوونه او نورو اړینو ژبنیو چاروکې په کار اچول کیږي او ترې ګټه اخستل کیږي.

**دنظري ژبپوهنې مشهورې څانګې دادي:**

**۱- تشریحي ژبپوهنه**

دژبپوهنې په دې څانګه کې دژبې رغاوني سیستم د تاریخ په یوځانګړي پړاو کې څیړل کیږي.

**۲- تاریخي ژبپوهنه:**

دژبپوهنې په دې څانګه کې دیوې ژبې هغه تاریخي تحول اوبدلون تر غور او څیړنې لاندې نیول کیږي ، چې په بیلابیلو دورو کې ورپیښ شوی وي.

**۳- پرتلیزه( مقایسوي) ژبپوهنه:**

په پرتلیزه ژبپوهنه کې څوژبې چې له یوې کورنۍ څخه وي اویا دژبو څو کورنۍ په پرتلیز ډول ترغور لاندې نیول کیږي او یو تربله سره پرتله کیږي. څوچې ددوی ترمنځ نږدیوالی او اړیکې څرګندې شي.

دګرامر لیکنې په اوسمهاله میتود کې داجوته شوې چې ګرامر دتشریحي – ژبپوهنې غوره او اساسي څانګه ده او په دې څانګه کې دژبې دجوړښت نظام په علمي ډول تشریح کیږي.

چې دلته موږ دژبې دساختمان لومړنی نظام ( فونو لوژي ) دتشریحي ژبپوهنې دیوې څانګې په ډول ترڅیړنې لاندې نیسو:

## فونو لوژي – ( Phonology )

فونولوژي د تشريحي ژبپوهنې يوه غوره څانګه ده چي يوازې ديوې ژبې د ارزښتناکو او ازونو په هکله بحث او څيړنه کوي.
کله چي ديوې ژبې په ارزښتناکو اوازونو غږيږو ، نودا پوښتنه را منځ ته کيږي چي دغه ارزښتناك اوازونه له کومه مينځ ته راځي او په منځ ته راتګ کې يې کوم صوتي غړي ونډه اخلي او د اواز د ادا کولو په وخت کې صوتي غړي څه ډول شکل اختياره وي.
دلته ددې اړتيا پيداکيږي چي دفونيميکس دڅيړنې له پاره لومړی په فونيټکس باندې رڼا واچول شي.
داځکه چې فونيميکس بې له فونيټکس څخه کوم مفهوم نه لري او نه فونولوژي بې له فونيټکس څخه ديو علم په حيث ښکارندويي کولی شي.
په پای کې ويلی شو چې فونيټکس او فو نيمکس دواړه دفونولوژي په علم کې شاملې برخې دي اود فونولوژي دڅانګو په ډول بايد ترڅيړنې لاندې ونيول شي.

## فونټيکس او فونيمکس:

دلرغوني زماني څخه پوهانو په ژبنيو څيړنو کې دژبې دغږيزې بنې سره علاقه ښودلې ده او کوښښ يې کړی دی چې د يوې ژبې لومړني توکي يعنې اوازونه دبيلا بيلو لارو او ميتودونو په مرسته تشريح او وڅيړي.
څرنګه چې دژبې اصلي او ريښتيني توکي هماغه غږونه او غږ غونډونه دي چې څرګندني ، شعوري او سمبوليکه ځانګړتيا ولري نو جوته ده چې ديوې ژبې په څيړنه کې لومړی دهغې ژبې غږونه او فونيمونه تشريح کيږي.
دژبې غږونه کولای شو د دوو اړخونو له مخې ترڅيړنې لاندې ونيسو. که هدف مو داوي چې په يوه ژبه کې غږونه څه ډول را زيږي ، دغږو په منځ ته راتګ کې کوم غږيز ( صوتي) غړي په کار لويږي او فزيکي ځانګړتيا يې څه راز ده ، کوم فزيکي عوامل ددې سبب کيږي چې ديوې ژبې غږ دبلې ژبې له غږ سره توپير مومي ، غږونه څنګه اوريدل کيږي ، يايې په يو ځای کيدلو کې څه ډول بدلونونه راځي او بياهغه څنګه راځي او داسې نور، دغه راز څيړنوته غږ پوهه ( فونيټکس ) وايي.
نوپه غږپوهه کې زمونږ موخه او هدف دغږ د زيږد اوفزيکي خصلت پيژندنه ده.
په غږپوهنه کې دغږيزو پلټنو ډګر پرهغه ډلې غږونو پورې محدوديږي چې يوازې په ژبه کې پرکار لويږي او ناژبني غږونه له اصله په غږ پوهنه کې ترڅيړنې لاندې نه راځي.
له بله پلوه ښايي دغږونو له څيړنې څخه موموخه داوي چې وپوهيږو په يوې ځانګړې ژبه کې هريو غږ څه چار پرغاړه اخلي ، کوم يو غږ په يوځانګړي غږيز نظام کې دبل يو غږ پرځای وکارول شي کوم بدلون نه پيښوي يوازې وينګ او تلفظ کې ګډوډي راولي ، غږونه دکومو ژبنيو قاعدوله مخې سره ترکيب مومي او لازيات ستر جوړښتونه لکه څپه ، لغت يا عبارت منځ ته راوړي دغه راز پلټنې ته اواز پوهه يا فونيميکس وايي. په دې توګه آواز پوهه دژبې دغږيز

نظام څیرنه ده او دغږونو زیږد فزیکي ځانګړتیا او مینځ ته راوړني اوځرنګوالي سره کار نه لري.
دغږ پوهي او اواز پوهي په اړوند دپورتنیوڅیرنوڅخه دې پایلي ته رسیږو چي دغږ پوهي سکالو(موضوع) غږ اویا په بله وینا فزیکي او عادي پدیده ده.
خود آواز پوهي سکالو(موضوع) غږیز نظام او په هغه کې دغږونو چار یا په بله وینا یوه ذهني او مجرده پدیده ده.
دژبې غږیز نظام دهمدغې ژبې دبېلابیلو نظامونو یوه برخه جوړوي.

نواواز پوهه دژبپوهني یوه برخه ده دغږ پوهي څیرنه د آواز پوهي په برخه کې دڅیړني یو پیلامه ده. په دې مانا ترڅو چي لومړی په غږ پوهه کې دژبې دغږونو پیژندنه ترسره نکړو نشو کولای په اواز پوهه کې د یوه داسي نظام چي دغږونو ترمنځ شته دی او هغه دودونه او قاعدې چې پرهغه نظام واکمني لري ترڅیرني لاندې ونیسو.
نو ویلای شوچي فونیټکس او فونیمیکس دواړه دفونولوژي په علم کې شاملي برخې دي.
دغږ پوهې ( Phonetics ) ځانګې:
غږ پوهه یا فونیټکس ( Phonetics ) په دا وروسته درې ځانګو ویشل کیږي:

**۱- تولیدي غږ پوهه ( Articulatory phonetics ) :**
څرنګه چي د ژبې اوازونه دانسانانو له خوا ویل کیږي او درك کیږي په دې اړه د ژبې آوازونه دانساني ارګانیزم دفعالیت نتیجه ده نو دغږ پوهي په دغه ځانګه کې دغږونو د اداکولو په وخت دغږیز جهاز دغړو حرکات او دغږونو د اداکولو وتونځي ( مخرج) او دغږونوډولونه ترکتنې او څیرني لاندې نیول کیږي.
**۲- ازمایښتي یالابراتواري غږ پوهه ( Acoustic Phonetics ) :**
کله چي غږونه دانسان دغږیزو غړو په واسطه تولید او اداشي نو هرو مرو دهوا په مرسته داوریدونکو غوږونوته رسیږي چي کله ډیر سریع کله لوړ او کله بیا تکراري وي.
که چیرې موږ اوازونه دهغوي دسرعت ، لوړوالی ، تکرار او دهوا د موجونو له مخې ترڅیرنې لاندې ونیسو نو دغه سکالو(موضوع) په اکوستیکه فونیتکس پورې اړه پیداکوي.
نو دغږ پوهنې په دې ځانګه یعني اکوستیك فونیټکس کې دصوت فزیك په مرسته هغه غږونه چې دغږیزو غړو په وسیله جوړیږي او په ژبه کې کارول کیږي دفزیکي ځانګړتیا له پلوه سپړنه مومي او ډلبندي کیږي. کله چه په دې ورستیو کلونو کې ځیني نوي ماشینونه اختراع شول لکه داواز سپکتوګراف ( Sound spectogrohp ) نوفونیتیکس ډیر زیات دژبپوهنې په درد ولګیده. ځکه دغه ماشین کولای شي چي دغږیزو څپو څرنګوالی هسې ثبت کړي لکه په ګړیدا کې چې واقع کیږي همدارنګه دغه ماشین کولای شي چې خپله دغږ دشدت تکرار او نور خواص تجزیه او تحلیل کړي. په ژبپوهنه کې ډیر ستر انکشاف دهمدې ماشین اختراع بلل شوی.

**۳- اوریزه غږپوهه – ( Auditory Phonetics )**
دفونټکس به دغه څانګه کي یوازې داوریدونکو عکس العمل ترڅیړنې لاندې نیول کیږي یعنې دژبې غږونه څنګه داوریدونکوله خوا اوریدل کیږي.
کله چې یو څوك غږیږي نو دغه اواز او غږیدا د موجونو په واسطه د یوچا غوږو ته رسیږي ، اوریدونکي هرومرو یوعکس العمل ښیي دغه عکس العمل دایوډیوتوري ( Auditor phonetics) سکالو(موضوع) تشکیلوی.
دفونټکس له پورته دریو څانګو څخه ارتیکولري هغه څانګه ده چې سکالو(موضوع) یې د نورو څانګو څخه په ډیره اسانۍ سره تر کره څیړنې لاندې نیول کیږي.
ځکه چې ددغې څانګې د سکالو(موضوع) دڅیړلو او پلټلو لپاره موږ دانسان صوتي یا غږیزو غړو او دهغوي ، هغه رول لوبولوته اړتیا لرو کوم چې د مختلفو وییزو غږونو دادا کولو په برخه کې یې لرو.

## ویناییز یا ګړهاري غړي
## ( Organs of speech )

دانسانانو هغه غږیز ( صوتي ) غړي چې داوازونو په تولید کې برخه اخلي په ټولو انسانانو کې ( د ځینو په استثنا ) په طبیعي ډول موجود وي.
دانسانانو دغه صوتي یا غږیز غړي اصلاً ځینې نورې مهمې دندې لري لکه تنفس کول او داسې نور. ولې طبیعت موږ ته ددغو غږیزو غړو په واسطه یوه بله ډالۍ هم رابخښلې ده چې هغه خبرې کول دي یعنې دغوغړو سربیره په اصلي فزیولوجیکي وظایفو دخبرې کولو دنده هم په غاړه اخیستې ده. دژبې دیو زده کونکي یا د ( Articulation ) دیو زده کړې لپاره تر هرڅه دمخه دا اړینه او لازمه ده چې دانسان صوتي یا غږیز غړي او ددوي دندې په څرګند ډول وپیژني.
دانسان هغه غږیز غړي چې دخبرو اترو په وخت کې د اوازونو په تولیدولو کې مهمه برخه لري په وروسته ډول پیژندل کیږي.
**اول – ژبه:**
دزیاتروغږونو په پیدایښت کې دژبې ونډه دومره آغیز منه ده چې دنړۍ زیاترېي ژبې یا په بله وینا وګړنیز ګړنې ځواك ژبه بلل شوې ده. دغه راز ژبه دیو ډېر خوځنده غږیز غړي په توګه په بیلا بیلو برخو ویشنه مومي:
۱- ریښه ۲- وروستۍ برخه ۳- منځنۍ برخه ۴- دمخنۍ برخه ۵- دژبې سر.
**دوهم _ خوله:**
دراز راز غږونو په پیدایښت کې دخولې کارونه ډېره زیاته ده ددې له پاره چې په خوله کې بیلا بیل راپیدا کیدونکي غږونه تعریف او تصنیف شي نوپه کار ده چې خوله هم په بیلا بیلو ځایونو یا غږ زیږ دځیو وویشل شي. لکه:
دخولې لوړه برخه : ژبۍ ، نرم تالو ، زیږ تالو ، اورۍ

**۳- غاښونه او شونډې:**

شونډې هم کولای شي دراز راز بنو په غوره کولو سره راز راز غږونه رامنځ ته کړي یا دهغو په پیدایښت کې برخه واخلي، لکه : ددواړو شونډو تړل کیدل، نیم تړل کیدل یا بیخي بیرته کیدل.

**۴- ستونی:**

دستوني یا کومي دیوالونه کیدای شي سره ټینګ یاسست شي. کله چې دستوني دیوالونه سره ورغلي ( منقبض ) شوي وي دستوني یا کومي تشه تنګیږي له دې سره دستوني دوتونکي ساتېریدنه دیو ډول ځانګړې مبنني یا بنګهار د را پیدا کیدو سبب کیږي چې کومیزه ځانګړ تیا ورته وایي. غږن مبنلی کومیز غږ عربي ( ع ) او نا غږن یي ( ح ) ده _ کومیز شوي غږونه لکه: ((ط)) او ((ظ)) ستونی دوې لارې لري یوه دخولې او بله دپزې.

که نرم تالو پورته خواته وخوځیږي نو دپزې لار وتړله شي او که ژبه دنرم تالو خواته وخوځیږي دخولې لار وتړله شي.

## غږیز مزي: ( Phonatory organs )

دغو غړو دحنجرې په نامه په یوه کرپندیزه تشه ( خالیګاه ) کې ځای نیولی دی او دمری یا تنفسي نل په لوړه ( پورتنۍ ) برخه کې شتون لري.

په چنغړك ( خنجره ) کې دوه شونډیز ډوله او ډېرې نرمیدونکې پردې په افقي ډول ځای لري چې غږیز تارونه بلل کیږي ( که څه هم تار ډوله نه دي ).

دغږیزو تارونو فزیالوجیکي دنده دوازیدنې او بندیدنې په وسیله د سا ایستنې او تیرونې اوډون او تنظیم.

بل داچې د درنو څیزونو دجګو لو په وخت کې سږوته دهوا د تګ او راتګ په مخنیوي سره دګوګل دکښته لویدنې او ماتیدنې مخه نیسي.

کله چې هوا د آواز د اداکولو په وخت کې د حنجرې له خالیګاه څخه دغږیزو مزو ترمنځ تیریږي که دهوا د تیریدلو په وخت کې غږیز مزي بیخي سره نږدې وي نو دهوا جریان یې رپوي او کوم آواز چې په دغه وخت کې تولیدیږي غږن آواز یې بولي. لکه د ( ب ) یا ( ډ ) آواز.

او که غږیز مزي لږسره لیرې وي دهوا جریان یې نه شي رپولی او په دغه وخت کې بې غږه آواز تولیدیږي. لکه د ( پ) یا ( ت ) آواز. دغه سبب دی چې غږیز مزي په غږیزو غړو کې ډیر اهمیت لري.

**په لنډ ډول باید و وایو چې:**

هغه غږونه چې دزيږد پروخت يې غږتارونه دغږ نوالي دجوړونې په حالت کې دي غږن بلل کيږي.لکه د(ز)غږ.
او هغه غږونه چې دزيږد پروخت يې غږ تارونه دغږ نوالي د جوړونې په حالت کې نه دي ناغږن بلل کيږي. لکه د ( س ) غږ .دانسان غږيز(صوتي) غړي په لاندې شکل کې وګورئ




## داوازونو وتونځي
## ( Position of articulation )

دانسان غږيز(صوتي) غړي دخولې په خواکې په دوو برخو ويشل کيږي:
۱- ښوريدونکي غږيز غړي.
۲- نه ښوريدونکي غږيز غړي.
ښوريدونکي غږيز غړي ( Articulators ) هغه غږيز غړي دي چې د آوازونو داداکولو په وخت کې په حرکت کې وي چې هغه دادي:
دژبې وروستی ، منځنی او د مخنی برخه ، دژبې سراو لاندې شونډه.

نه ښوريدونکي غړيز غړي چې Point of articulation يې بولي هغه غړيز غړي دي چې د آوازونو د اداکولو په وخت کې حرکت نه کوي او ځای پرځای ولاړ وي.
داغړيز غړي دادي:
نرم تالو، زيړ تالو ، اورئ ، دلوړو غاښونو بيخونه ، دلوړوغاښونو سرونه او لوړه شونډه.
هر کله چې ښوريدونکي او نه ښوريدونکي غړيز غړي سره يو ځای شي داوازونو و تونځي او مخرجونه تشکيليږي. دمثال په توګه که دژبې سر او دلوړو غاښونو بيخ سره يوځاي شي نو د ( ت ) يا ( د ) مخرج تشکليږي او که لاندې شونډه او لوړه شونډه سره يو ځای شي د ( ب ) يا (پ) وتونځي تشکيليږي.

## زيږد ډولونه ( شيوه های توليد)
## ( Manner of articulation )

هغه اکر( حالت) چې ويند غړي يې ديو غږ د زيږد پروخت ځان ته غوره کوي ، دهغه غږ د زيږد ډول په نامه نومول کيږي.
**غوره زيږد ډولونه په لاندې ډول دي:**
۱- تم يا انسدادي ( Plosive ) يا ( Stops ):
دغه راز زيږ ډول هله را منځ ته کيږي چې په يوه زيږ ځي ( مخرج ) کې سره دوه غړي داسې يوله بله اړيکي يا تماس ومومي چې مخرج ټپ وتړل شي او دهوا جريان تم يا بندشي.
لکه: د (ب) او ( پ ) په وينګ ( تلفظ ) کې.
۲- پزيز يا خيشومي ( Nasal ):
دغه زيږ د ډول هغه مهال مينځ ته راځي چې دژبې له ښکته کيدوسره دتميزو لاره بيرته پاتې شي،په داسې توګه چې ټوله يا لږه سا هوا ، له تميز وڅخه بهر شي.
۳- مښلي _ سايشي ( احتکاکي) _ ( Fractive ):
کله چې په يو زيږد ځي کې دوه غړي سره داسې نژدې شي چې دګړهار بهنځ ( مجرا) ديو څه شيبې له پاره دومره تنګ کړي چې له هغې تنګۍ څخه هوا دتيريدو په وخت په غړو پورې و مښلی شي يا وسولول شي او يو غږ را منځ ته کړي. مښلی ډول ترلاسه کيږي.

مښلی ډول کله کله دژبې دبڼې له مخې پر ناوه يي ( شپلکی يا صفيريي) او پاشيلي ډولو ويشل کيږي. لکه: (س) او (ز) دپيدايښت پروخت. دپاشيلي ډول له پيدايښت سره ژبه ناوه کيږي نه ، بلکې هوا په ټولې تنګی پوري سوليږي. لکه د ( خ ) او (ث) له پيدايښت سره.

**۴- رغښتي ( لرزشي ) ( Rolled Trill )**

که دهوا بهنګ يو ويند غړی ديوڅه شيبې له پاره داسې په ريږديدا راوړي چې له هغه ريږديدا څخه په غږ کې يو رغښت رامنځ ته شي، رغښتي ډول لاس ته راځي دغه ډول دژبې په زيږ ځي کې دژبې له ريږدا سره او په اوريز هغه کې د ژبې سر له ريږدا سره ترسره کيږي. لکه دپښتو (ر) يا پرانيستي

( د ) دپيدايښت پروخت.

**۵- اړخيز _ کناري ( Lateral ):**

کله چې دژبې يوه برخه له يوه زيږ ځي سره داسې ولګي چې دګړهار بهنځ يوازې په منځ کې وتړي ، مګر دخولې يوه خوا ( وښکی) يا دوې خوا بيرته پريږدي اړخيز ډول را پيدا کيږي. لکه د ( ل) په پيدايښت کې

**۶- نامښلي _ ناسوده _ ( Friction less )**

که دوه غړي سره داسې نږدې شي چې ديو غږ غږيزه لوخه ( خاصيت ) بدله کړي خود تم مښلي دريږدا يا اړخيز توب سبب نه شي، نامښلی زيږد ډول را مينځ ته کيږي. لکه د (ی) او (و) سره يعنې

( $\partial y$ )غبرګ اواز چې ديو ستوي اواز په توګه له خولې څخه راوځي.

زيږد ډولونه دزيږ د ځيو غوندې تړښتي ( ترکيبي ) خاصيت لري ، داسې چې که يو غږ په پيدايښت کې دوه زيږد ډولونه لکه تم او مښلي پيښ شي نو تم مښلي بلل کيږي. لکه د ( چ ) او (څ). همدارنګه تم مښلي ناوه يي لکه: ( ځ _ څ _ ژ ....)

**۷- پورغږ يا مستعار صوت:** هغه غږ يا اواز ( فونيم ) ته وايي چې له اصلي تلفظ سره له يوې ژبې څخه بلې ته ورننوتی وي. لکه عربي ( ق ) په ځينو ګړدودو يا (ف) دافغان او افغانستان په کره پښتو وينګ کې.

## فون ، فونیم ، الوفون
## ( Phone – Phoneme – Allophone )

**فون _ Phone**

هر هغه آوازونه چې دانسان دغړیزوغړو په واسطه تولید او ادا کیږي وییز غړونه ورته وایي او یوازې یو وییز غړ په ژبپوهنه کې فون بلل کیږي.
فونتکس په فون باندې بنا اود دغې څانګې خام مواد ورته وایي چې ثبتول یې دژبې دلابراتوارونو او تخنیکي الاتو په واسطه مینځ ته راځي.

**موریوپي ( Morio pei ) په وینا:**

(( دفون اصطلاح یوه فزیکي پیښه ده چې دهر وییز غړ له پاره استعمالیږي ولی په دې پسې نه ګرځي چې څه رنګه دیوې خاصې ژبې په جوړښت کې ورڅخه کار اخستل کیږي.

**فونیم _ Phoneme :**

دلومړي ځل لپاره د فونیم اصطلاح په ۱۸ ۱۸ عیسوي کال کې دروسي دیو ډېر ستر ژبپوهان بودوین ډې کورتیني ( ۱۸۴۵ – ۱۹۲۹ ) Bandouin de courtenay او دهغه دزده کړي کرژیوسکي له خوا منځ ته راغله.
کله چې موږ دیوې ځانګړې ژبې داوازونو په برخه کې غږیږو نو دهغې څخه مطلب دهغې ژبې په فونیمونو باندې غور اوڅیړنه کول وي. یعنې دا هغه آوازونه دي چې په هغه ژبه کې استعمالیږي او دمانا د اوړون او بدلون سبب ګرځي.
لکه د ( ګور) په کلمه کې چې ( ګ) یو فونیم دی کله چې د ( ګ ) پرځاي د ( ك) فونیم استعمال کړو نو هرو مرو دکلمې مانا بدلیږي او د ( ګور) څخه چې د ( قبر) په مانا دی، ( کور) مورفیم د ( خانه ) په مانا جوړیږي.
دیو فونیم په تغییر سره مانا یې هم اوړون او بدلون پیدا کوي دمثال په ډول( Kor–tor-xor – mor ) په دې څلور بیلو بیلو کلمو کې یوازې د K, t, x, m فونیمونو دتوپیر پراساس دکلمو غړیزه بڼه بدله شوې او د غړیزې بڼې دبدلیدو سره د کلمو مانا هم بدله شوې
دانیل جونز Daniel Jonse دفونیم دپیژندنې په اړوند وایي:
(( فونیم په یوه ژبه کې داوازونو هغه کورنۍ ده چې دخپل کرکتر او ځانګړتیاو له مخې سره اړیکه لري او هیڅکله هم یو دبل پرځای په یوه لغت کې نه استعمالیږي.))
داکتر مجاور احمد زیار پخپل کتاب پښتو پښویه کې فونیم داسې راپیژني:
« فونیم دژبې ترټولو کوچنی غږیز توك ته وایي، چې پخپله کومه مانا نه لري. مګر په وییونو ( کلمو) کې دمانیز توپیر سبب ګرځي»

کله چې موږ دیوې ژبې فونیمیکي سیستم ترڅیړنې لاندې نیسو نو دا به ښه راته څرګنده شي چې دهغې ژبې فونیمونه څرنګه دیوبل سره توپیر لري.
دمثال په توګه دپښتو ژبې (ت) او (د) فونیمونه څکه سره توپیر لري چې ( ت) بې غږه او ( د) یوغږن فونیم دی او که چیرې یو فونیم دبل فونیم پرځای استعمال شي نو مانا ته تغییر ورکوي.
که د (تار) په کلمه کې د (ت) فونیم پرځای د (د) فونیم استعمال کړو نو یوبل لغت ( دار) څنې جوړیږي چې مانا له تارڅخه بیخي توپیر لري.

**الوفون _ ( Allophone )**

که دژبې اوازونه په ډیر دقیق ډول تر څیړنې او غور لاندې ونیسو ، له داسې اوازونو سره مخامخ کیږو چې هماغه یواواز په بیلو بیلو ځایونو او موقعیتونو کې په بیلو ، بیلو ډولو نو سره اداکیږي.
دمثال په توګه د (پ) اواز د (پند) یا (پل) په کلمو کې دغسې نه اداکیږي لکه د ( توپ) یا ( چپ ) په کلموکې.
څکه چې د (پند) یا (پل) په کلمو کې د (پ) داداکولو په وخت کې له (پ) سره یو څه هوا په شدت سره راوځي او په دې ډول یو سابیز ( نفسي) اواز څنې جوړیږي.
مګرد د(توپ) یا (چپ) کلمو کې د (پ) دادا کولو په وخت کې دهوا جریان په دومره شدت سره نه راوځي چې یوسابیز اواز څنې جوړشي، بلکې په ناسایزه بڼه تلفظ کیږي.
داریښتینوالی به هلته ښه څرګند شي چې دیو نري کاغذ پاڼه خولې ته نږدې ونیسو او بیا یوځل لومړی دوې کلمې ( پند اوپل) تلفظ کړو، بیا دوهمې دوې کلمې ( توپ او چپ) تلفظ کړو. په دې توګه به ښکاره شي دلومړیو دوو کلمو د (پ) د اداکولو په وخت کې د کاغذ پاڼه دهوا جریان څخه څکه چې شدت لري متاثره کیږي او ښوري . مګر دورستیو کلمو د (پ) دادا کولو په وخت کې څکه چې دهوا جریان بند یږي او کاغذ هم نه اغیزمن کیږي یعنې نه یې شي ښورولی . همدارنګه د ( دود) او (درد) په کلمو کې دلومړیو دالونو او وروستیو دالونو تلفظ سره یو راز نه دی: یعنې لومړي دالونه ډیر غږن دي او وروستي دالونه لږ غږن دي.
دپورته لومړي مثاله څخه څرګندیږي چې که په پښتو ژبه کې (پ) دکلمې په سرکې راشي او حرکت ولري ( وروسته یې واول راغلی وي) نفسي اواز ځینې جوړیږي او که په پاي کې راشي ناسابیز اواز ځینې جوړیږي.
همدارنګه ددوهم مثال څخه څرګندیږي چې که ( دال) د کلمې په سرکې تر واول دمخه راشي غږ نتوب یې ډیروي او که په پای کې راشي غږنتوب یې لږوي.
له پورتني بیانه څخه دې پایلې ته رسیږو چې:
اواز یا فونیم یو واحد شی نه دی بلکې ډیری اوازونه داوازونو جونګ ( Sound unit ) دی یعنې څو ډوله اوازونه سره یوځای کیږي او بیا یو اواز څنې جوړیږي چې دغه یوه اوازته په ژبپوهنه کې فونیم ( Phoneme ) وایي او دفونیم هر غړي ته الوفون allophone وایي.
مثلاً په لومړي مثال کې د ( پند) (پ) یو ډول او د توپ (پ) بل ډول اواز دی دا دواړه اوازونه یوځای یو فونیم تشکیلوي خو په بیل ډول بیا هر یوه ته الوفون وایي.
نو په دې توګه ویلای شو چې په پښتو کې د (پ) فونیم دوه الوفونه لري یوسایزه (پ) اوبل نا سابیزه (پ) .

**دلومړي څپرکي _ پوښتنې:**

۱- ګرامر یا پښویه څنګه راپيژنئ ؟

۲- دګرامر دبرخو نومونه واخلئ او په ترتيب سره يې راوپيژنئ ؟

۳- دژبې د جوړښت او ساختمان لومړی نظام کوم دی؟ او په دې کې کوم ژبنی توکی څیړل کیږي

۴- په ژبپوهنه کې کومې ربړې ترخيړنې لاندې نیول کیږي؟

۵- دالواکي(نظري) او کاروني ژبپوهنې تر مينځ توپيرونه څنګه جوتولی شئ؟

۶- دتاريخي او پرتليزې ژبپوهنې دبحث سکالو(موضوع)ات کوم دي؟

۷- دغږ پوهې او اوازپوهې ترمنځ کومې اړيکې موجودې دي:

۸- دفونيټکس او فونيمکس دبحث او څيړنې سکالوې( سکالو(موضوع)ات) څنګه توپيرولی شئ؟

۹- په غږ پوهه کې د غږونوکومې ځانګړتياوې څيړو؟

۱۰- دغږ پوهې درې بنسټيزې څانګې کومې دي؟

۱۱- دغږيز جهاز دغړو حرکات او دغږونو وتونځی دغږ پوهې دکومې څانګې په واسطه څيړل کيږي؟

۱۲- دانسان غږيز غړي را وښاياست ؟

۱۳- دژبې ونډه د زياترو غږونو په پيدايښت کې څومره آغيز منه ده؟

۱۴- دژبې مختلفې برخې کومې دي؟

۱۵- دغږيزو غړو په حيث لاندې شونډه او باندې شونډه سره کوم توپير لرلی شي؟

۱۶- دغږيز و تارونو فزيالو جيکي دنده څه ده؟

۱۷- ديو غږ يا آواز په پيژندلوکې زيږد ځای اوزيږد ډول څه رول لري؟

۱۸- غږن او نا غږن اواز څنګه توپيرولی او پيژندلی شئ؟

۱۹- ( ب = b ) په( بر) او ( خوب) کې څه توپير مومې؟

۲۰- وتونځی او مخرج څنګه تشکیلیږي؟ فونیم اوالوفون څنګه راپیژندلی شئ؟

**دویم څپرکی:**
**منځپانګه:**
**داوازپوهې پیژندنه او تعریف**
**په پښتو ژبه کې د اوازونو ډولونه (خپلواک، ناخپلواک، نیمواک، دیفتانګ)**

**موخې:**
**ددې څپرکي د تدریس او زده کړې په پای کې به زده کړیا لان په دې وتوانیږي چې:**

- **او از پوهه د فونولوژي د پوهې د برخې په توګه وپیژني.**
- **داواز پوهې دبحث موضوعات تشخیص کولای شي.**
- **په پښتو ژبه کې داوازونو ډولونه پیژني.**
- **واول اوازونه تعریفولی او مثالونه یې وړاندې کولی شي.**
- **د واول اوازونو ځانګړنې په ګوته کولی شي.**
- **دهیجا په جوړښت کې دواول اواز اول تشخیصولی شي.**
- **ناخپلواک اوازونه پیژني او په مثالونو کې یې څرګندولی شي.**
- **دنیمواک او واول اوزونو یو له بله تو پیر کولای شي.**
- **دغبرګو اوازونو په جوړښت باندې پوهیږي او په مثالونو کې یې تشخیصولای شي.**
- **څلور ډوله اوازونه دغږیزو غږو د چارونو او اکرونو له مخې تشریح اوتوضیح کولای شي**
- **په کلمه کې خجنې او بې خجه څپې پیژني_ د تلفظ په اړه یې ستونزې نه لري.**
- **د پښتو الفبا اړوند د هر اواز زیږد ځي او زیږد ډول تشخیصولی شي.**

جوته ده چې هر انسان کولای شي یو شمیر زیات اوازونه له خولې څخه را وباسي او وروسته له یوڅه مشق او تمرین هر رنګه آواز تلفظ او ادا کړي.
مګر په هره ژبه کې محدود شمیر اوازونه استعمالیږي. که چیرې دیوې ځانګړې او خاصې ژبې اوازونه ، دهغوی اړیکې او خصوصیات چې دهغې د آوازونو او غږونو سیستم منځ ته راولي ترڅیړنې لاندې ونیسو نو دغه څیړنه په فونیمیکس پورې اړوندیږي.
یا په بله وینا: دیوې ځانګړې او خاصې ژبې د آوازونو او دآوازونو د مشخصاتو او خصوصیاتو څیړنه د ژبپوهنې په هغه څانګه پورې اړه لري چې هغې ته فونیمیکس یا فونولوژي وایي.
دغه د فونیمیکس اصطلاح دلومړي ځل له پاره اروپایي پوهانو کارولې ده او په دې کې دیوې خاصې ژبې آوازونه ، دهغو رابطه او جوړښت ترکتنې او څیړنې لاندې نیول کیږي.
( Kil pike ) په وینا : (( فونیمیکس دیوې خاصې ژبې داوازونو جوړښت او ساختمان ترغور او کتنې لاندې نیسي او مقصدیې یوې ژبې ته لیکنی یا تحریري بڼه ورکول دي.))

**دپښتو ژبې لومړني آوازونه:**

دژبې ترټولو کوچني غږیز توك ( عنصر) ته اواز ، واج = واك _ Phoneme وایی. پښتو ژبه له (۳۶) اوازو څخه جوړه ده.
دیوې ژبې دټولو اوازونو انځورونې ته دهغې ژبې الفبې ( الفبا) وایي بشپړه الفبا هماغه ده چې دهریوه اواز له پاره یوه نښه ( توري) ولري.
دغه راز الفبا ته غږیزه یا فونیمیکه الفبا وایي.
په پښتو ژبه کې دزیږد له مخې اوازونه په دې لاندې ډولو ویشل کیږي:
۱- خپلواك یا واول ( Vowels ) آوازونه
۲- ناخپلواك ( بیواك) یا کانسوننت ( Consonants ) اوازونه
۳- نیمواك یا سیم واول ( Semi vowels ) اوازونه
۴- غبرګغږونه یا ( Diph thongs ) اوازونه

**لومړی _ خپلواك ( واول) ( Vowels ) اوازونه:**

خپلواك یا واول اوازونه هغو آوازونو ته وایي چې دتلفظ یا ویلو په وخت کې یې دسا هوا جریان دغږیز وغړو له خوانه بندیږي.
یا په بله وینا: خپلواك اوازونه له خولې څخه داسې ښوی راوځي چې غږیز غړي سره ټکرنه کوي او دساهوا په جریان کې کوم بندښت نه پیښیږي.
دفونولوژي له نظره دواولونو او کانسو نینټونو وظیفوي تفاوت دسیلاب په اړیکه څرګندیږی. واولونه سیلاب جوړوونکي اوازونه دي یعنې واول اواز تل دڅپې هسته او زړی جوړوي په یوه کلمه کې دهیجا وشمیر دواولونو په شمېر پورې اړوند یږي په دې مانا که چیرې په یوه کلمه کې یو واول موجودوي یو هیجایي ده لکه زه ( z∂ ) که دوه واوله موجودوي دوه هیجایي ده لکه آواز= (awaz) په همدي ډول نور- کیدای شي چې یوه کلمه دې دڅلوړو تورو څخه جوړه شوې وي مګر هیجابه یې یوه وي

ځکه چي داکلمه به دیو واول لرونکي وي لکه د سپین ( Spin ) یا ورور = ( Wror ) کلیمې
دپښتو ژبې واول آوازونه په لاندې ډول دي:
۱- الف (ā ) لکه د آواز (āwāz) په کلمه کې.
۲- زور (a ) فتحه لکه د توره ( tora ) په کلمه کې.
۳- زور کی یاکوچنی (ه) (∂) لکه د تره ( tr∂ ) په کلمه کې.
۴- څرګند یا لنډزیر (ي) لکه د ښادي ( Šɑdi ) په کلمه کی .
۵- اوږد سپك زیریا اوږده (ې) لکه د ناوې (Nawē ) په کلمه کې.
۶- اوږد پیښ یا اوږ (و) لکه دکور ( Kor ) په کلمه کې.
۷- لنډ پیښ یا څرګند (و) = ( u ) لکه د سور (Sur ) په کلمه کې
۸_ زیر(I): تر (i) یو درجه ټیټ اداکیږي لکه دامضاً Imza، انځر InĴar په کلمو کې

**دخپلواك ( واول ) اوازونو د تشریح اصول:**

دمخه مود واول ( Vowel ) په پیژندنه کې وویل چې:

واول هغه اواز ته وایي چې دهغه د ادا کولو په وخت کې دغږیزو غړو تر منځ داسې تماس نه پیښیږي چې دهوا په جریان کې انسداد او بندښ واقع شي.

خود ژبې او شونډو د مختلفو حرکاتو له امله دخولې داخلي برخه بیل بیل شکلونه پیداکوي، په دې توګه واولونه یو له بله پخپل منځ کې توپیر پیداکوي.

پوهاند محمد رحیم الهام دپښتو ژبې واولونه (۹) بللي دي.

مګر پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار دپښتو ژبې واولونه (۷) بللي دي چې دغږیز وغړو د ډول ډول فعالیتونو، خوځیدونو او دریځونو له مخې یا په بله وینا د ژبې داګرونو ، دشونډو دبڼې او دژامې د ټینګوالي او سستوالي له مخې هریو بیلا بیل ترکتنې لاندې نیسو.

**۱- الف مد دار (ā ) :**

ښکیني ، و روستني ، ناګرد اوږد او ټینګ واول دی. دکلمو په سر، مینځ او اخر کې راځي.

دکلمې په سرکې: لکه – آس= ( ās )
دکلمې په مینځ کې لکه : ځار= ( Cār )
واره = ( wrār∂ )
دکلمې په پای کې لکه: ستا = ( Stā )
ورا (Wrā)

**الف /a / په خج لرونکي اوبې خجه سیلاب کې راځي:**

واړه= wār∂
وازده= wāzda
واده= wad∂
تالو= tālū

الف مددار (ā ) د کلموپه سر کې په یوازې توګه هیجا یا سیلاب جوړولی شي.

لکه: اسان āsān

آواز āwāz او نور

**۲- زور یا فتحه / a-1 /:**
ښکینی ، منځنی ناګرد خلاص لنډ واول دی. چې څه ناڅه لنډویل کیږي
دالفاظو او کلمو په سر، مینځ او پای کې راځي .لکه:
دکلمې په پیل کې: اکر = / akar /
انا = / anā /
دکلمې په منځ کې: لټ = / lat /
کر = / Kar /
اجمل = / ajmal /
دکلمې په پای کې: پله = /pla/
بیلوه = / belawa /
**الف یا زور / a / په خج لرونکي او بې خجه سیلاب کې راځي . لکه په لاندې مثالونو کې:**
کوټه = / Kotá /
بیده = / bídá /
وتل = / wat∂l /
خندا = / xandā /
زور هم د الف مد دار غوندې د کلمو په سرکې په یوازې توګه سیلاب یا څپه جوړولی شي. لکه په لاندې کلموکې:
اتڼ = / atan /
اتل = / atal /
اکا = / akā /
انا = / anā /
**۳- پیښ / u / :**
منځوال ، وروستنی ، ګرد، واز واول دی چې نسبتاً لنډویل کیږي.
مثالونه یې دادي:
اردو = / urdū /
سُر( موسیقی) = / Sur /
استاد = / Ustād /
ګل = / gul /
بې سره = / be súra /
( u ) د کلمو په سرکې په یوازې توګه هیجا جوړولی شي.
لکه : اجوره = U jū ra
**۴- زیر / I /:**
منځوال مخنی ، ناګرد، واز واول دی. تر (i ) یوه درجه ټیټ فصیح دخیل فونیم دی. دکلمو په سراو مینځ کې راځي.
نسبتاً لنډ اداکیږي. مثالونه یې دادي:
امضاً = Imzā

InĴar = انځر

bIl = بل

**زياتر په بې خجه سيلاب کې راځي لکه په لاندي مثالوکې:**

Sifat = صفت

Imlā = املا

inšā = انشا

Istilā = اصطلاح

**دکلمو په سرکې په يوازې توګه هيجا جوړولای شي:**

I da ra = اداره

I sa ra = اشاره

I jara = اجاره

I dā ra = اداره

**۵- زورکی / ∂/ :**

منځنی ، ناګرد، لنډ واول دی. چې دکلمو په منځ او پای کې راځي.

دکلمې په منځ کې:

/t∂l / = تل

/ b∂l / =بل

/ man∂l / =منل

دکلمو په پاي کې:

/ wād∂ / = واده

/ wrar∂ / =وراره

/ tr∂ / = تره

/ bid∂ / = بيده

زورکی ( ∂ ) زياتره په خچ لرونکي سيلاب کې راځي. لکه:

wād∂ = واده

zā r∂ = زاړه

lwast∂l =لوستل

مګر په بې خجه څپه کې هم ليدل کيږي. لکه

ğan∂m = غنم

đang∂r = ډنګر

lam∂n = لمن

**۴- اوږد ( واول) / O /:**

منځوال ، وروستنی ، او ټينګ واول اواز دی او نسبتاً اوږد ويل کيږي.

دوه الوفونه لري:

که چیرې په پورتني اواز زیات فشار راوړل شي اوږد ادا کیږي.
لکه د کور =Kor او اور or په کلمو کې.
او که چیرې فشار لږ راشي نولنډ ادا کیږي. لکه د زانګو Ĵango پیشو pišo په کلمو کې.
یا دا چې نوموړی اواز د کلمو په سر او مینځ کې اوږد ویل کیږي او د کلمو په پای کې لنډ راځي.
نوموړی واول اواز دکلمو په سر، مینځ او پای کې راځي اوهم په خج لرونکو اوبې خجه سیلابونو کې راتلای شي. مثالونه یې دادي:

Ĵan go ′ = زانګو
Pa sto′ = پښتو
Ko ta′ = کوټه
Koz da′ = کوزده

دکلمو په سرکې په یوازې توګه خپه جوړولی شي:

O b∂ = اوبه
O ṛ∂ = اوړه
O z a= اوږه

۷- **ځرګند واو / ū /:**

پورتنی ، وروستنی ، ګرد واول دی . چې نسبتاً اوږد ویل کیږي.
دکلمو په سر، مینځ او پای کې راځي. بیلګې یې دادي:
دکلمو په سرکې: ūs = اوښ
ūda = اوده ūsa = اوښه

دکلمو په مینځ کې:

Sūr = سور
t∂r būr = تربور

دکلمو په پای کې:

tā lū = تالو
ur dū = اردو
xe tū = خیټو

ځرګند واو ( ū) په خج لرونکي اوبې خجه سیلاب کې راځي:

t∂r būr = تربور
lū ta = لوټه
Pū ra = پوره

دغه واول اواز دکلمو په سرکې په یوازې توګه سیلاب جوړو لای شي:

ū da = اوده
ū sa = اوښه

۸- **اوږده ( ې ) / e /:**

منځوال ، مخنی ، ناګرد ، ټینګ واول اواز دی . دوه الوفونه لري. که چیرې فشار پرې زیات شي اوږد ویل کیږي او که فشار لږ وي لنډ ادا کیږي.
بیلګې یې دادي:

/ der / = ډېر
/ her / = هېر
/ maste / = مستې
/ ade / = ادې

دکلمو په منځ اوپای کې راځي او هم په خج لرونکو او بې خجه څپو کې راتلای شي.
لکه:

/ xwa ze / = خوږې
/ Ši dĕ́ / = شیدې
/ ža ŗe d∂L / = ژړېدل

**۹- څرګنده ( ي ) / i /:**

پورتنی ، مخنی، ناګرد واول اواز دی. نسبتاً اوږد ویل کیږي.
دکلمو په سر، مینځ او پای کې راځي . بیلګې یې دادي:

/ iré / = ایرې
/ wiš t∂l / = ویشتل
/ spin / = سپین
/ sāŗi / = سړي
/ sādi / = ښادي

په خج لرونکي او بې خجه سیلاب کې راځي او د کلمو په سرکې په یوازې توګه هیجاجوړولی شي
لکه:

/ lar gí / = لرګي
/ šidé / = شیدې
/ i man / = ایمان
/ i ša wal / = ایشول
/ i ré / = ایرې

## دخپلواکو ( واول) اوازونو جدول:

| [illegible] | د شونډو ربتیا / ژامې اکر | مخنی | | منځنی | | وروستنی | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ناګرد | ګرد | ناګرد | ګرد | ناګرد | ګرد |
| پورتنی | سست | i | | | | | u´ اوږد |
| | تینګ | | | | | | |
| منځوال | سست | I | | $\partial$ | | | U لنډ |
| | تینګ | e | | | | | Ó |
| ښکینی ( کښینی ) | سست | | | a | | | |
| | تینګ | | | | | ā | |

## دوهم – بيواك يا ناخپلواك ( Consonants ) اوازونه:

كانسونانت ( Consonant ) هغه اواز ته وايي چې دهغه د اداكولو په وخت كې دصوتي غړو دتماس له امله دهوا په هغه جريان كې چې دهغه د اداكولو په وخت كې له خولې يا پزې يا دغو دواړو لارو څخه وزي ، انسداد احتكاك يا كوم بل ډول بندش پيښ شي.
يا په بله وينا:
بيواك اوازونه هغه اوازونو ته وايي چې د راپيدا كيدو په وخت يې دهوا ازاد جريان له تمښت، بندښت يا كومې بلې مانع سره مخامخيږي . لكه:
د (ب) يا ( پ) د اداكولو په وخت كې چې د دوو شونډو د تماس له امله دهوا ازاد جريان له بندش سره مخامخيږي.
په همدې ډول د (چ) يا (ج) د اداكولو په وخت كې چې د ژبې او اورۍ تماس د هوا په جريان كې بندش راولي.
دبيواك يا كانسوننت اوازونو يوبل خصوصيت دادی چې هيڅكله دڅپې زړی او منځ كيدای نشي.
بيواك اوازونه لنډ ادا كيږي او دتلفظ په وخت كې يې فشار په خپلواكو راځي.
- كه دوه يا زيات كانسوننتونه په يوه سيلاب كې متصل سره راشي او ددوی په منځ كې واول نه وي كلستر ( Cluster ) يې بولي لكه په ( نمر) كې ( ن) او ( م ) . او په ( ازمويښت ) كې ( ښ ) او
( ت ).

## دبيواك ( Consonants ) آوازونو د تشريح اصول:

د نورو ډېرو خپلوانو ژبو په څېر د پښتو بيواك ( Consonants ) اوازونو په تشريح كې دوه څيزه په پام كې نيول كيږي:
زيږد ځای ( مخرج )
او زيږد ډول ( دمخرج بڼه )
نوله دې كبله دلته دغږيز و غړو څوځيدنه ، فعاليتونه او دريځونه په دې وروسته ډول څيړل كيږي:

**۱- زیږ دځای:**

دغږ زیږند غړو هغو برخو ته وایي چې په پرتلیز ډول یې دارتجاعیت قابلیت ډیر لږوي اوڅه ناڅه چپ او نا خوځند ګڼل کیږي.

لکه: پاسنۍ شونډه ، پاسني مخامخ غاښونه ، تالو ، اورۍ ، ستونی اونور. هرکله چې بیواك Consonants اوازونه له نوموړو ځایو نو څخه په هریوه ځای کې اداشي دهماغه ځای په نامه نومول کیږي:

لکه: شونډیز بیواك ، غاښیز بیواك ، تالوییز بیواك

اوریز بیواك، ستونیز بیواك او داسې نور

**۲- غږ زیږند غړي:**

دغږیز وغړو هغو برخوته وایي چې د ارتجاعیت وړتیایې زیاته وي اوڅه ناڅه خوځنده وي.

پښتو بیواك اوازونه ددې وروسته زیږند غړو په وسیله اداکیږي:

لاندنۍ شونډه ، ژبه ( د ژبې سر ، دژبې مینځ ، دژبې بیخ )

**۳- وتوځي:**

څنګه چې دبیواك اواز دزیږ د پروخت غږ زیږند غړي په غږ زیږد ځي پورې ونښلي پا ورنژدې شي دهغو د نښتی یاور نژدې کیدنې ځای ته وتوځي وایي.

پښتو بیواك اوازونه دا لاندې وتوځي لري:

- غبرګ شونډیز: چې دواړه شونډې سره ونښلي او غږ اداشي .
- شونډ غاښیز: چې لاندې شونډه دپاسینو مخامخ غاښونو سره ونښلي.
- غاښیز: چې د ژبې سرله پاسنیو غاښونو سره ونښلي.
- اوریز: چې دژبې سر له اورۍ سره ونښلي.
- تالوییز: چې دژبې بیلابیلې برخې د تالو له بیلا بیلو برخو سره ونښلي.

داوازونو وتونځي په لومړي سرکې په دوه ډوله غړو ویشل کیږي:

۱- خوځند وتوځي:چې داواز د ادا کولو او ویلو په وخت کې خوځیږي.

لکه: دژبې وروستنۍ ، منځنۍ او مخنۍ برخه ، دژبې سر اولاندې شونډه.

۲- ناخوځند وتوځي: هغه دي چې دغږ زیږ د پروخت نه خوځي او ځای پر ځای ولاړوي.

لکه: نرم تالو، نیم نرم تالو، اورۍ دپاسنیو مخامخ غاښونو بیخونه کله چې خوځند او نا خوځند غږیز غړي سره یوځای شي د اوازونو وتوځي رامنځ ته کیږی.

دغږ ( اواز ) زیږد ډول او لیار:

څنګه چې ژبني اوازونه دساهوا له رپا اوګډوډ تیا څخه منځ ته راځي نوله غږ زیږد ډول اولیار څخه مراد دادی چې دژبنیو اوازونو دپیدایښت پروخت دانسان په اراده دساهوا په جریان باندې څه پیښې کیږي:

د ساهوا د جریان تمونه ، دساهوا مښنه ، دژبې له دواړو اړخونو څخه دساهوا جریان اونور.

چې دهمدې پیښو له مخې د اوازو نو ډولونه سره توپیر مومي.

لکه : تم اوازونه

مښلي اوازونه

اړخیز اوازونه

بنګيدلي اوازونه اونور...........

- همدارنګه خوله ييز اوازونه هغه دي چې دزيږد پروخت يې خوله وازه دپزې لار بنده او ساهو په خوله وځي
- پزيز اوازونه هغه دي چې د زيږد پروخت يې دپزې لار پرانيستي او دخولې لار تړلې وي او هوا په پزه وځي.

ګړنسي يا غنه يي اوازونه هغه دي چې دپيدايښت پروخت يې خوله اوپزه دواړه بيرته وي او هوا له دواړو لارو څخه وځي.

په دې توګه خوله ، پزه ، سږي ، دواړه غاړې ، غړيز تارونه او ساهوا په مرستيالو وتوځو کې راځي.

پښتو بيواك ( Consonants ) اوازونه دغړنوالي ناغړ نوالي ، دغړزيږد ، غړ زيږد ډول او وتونځوله مخې په لاندې ډول دي:

لومړی: تم بيواك ( انسدادي ) آوازونه :

( Implosive )

هغه اوازونه دي چې د اداکولو په وخت کې يې مخرج ټپ وتړل شي او دهوا جريان بندشي او دمخرج دتړلو څخه وروسته له يومخه مخرج پرانستل شي او په دې توګه يوانسدادي اواز توليد شي.

په پښتو ژبه کې له ( ق ) عربي پورغړ څخه پرته تم بيواك اوازونه ( ٨ ) دي :

( ب – پ – ت – ټ –د –ډ –ل –ګ )

دغړيزو غړو دحالتونو او دريڅونوله مخې هر تم بيواك اواز په وروسته ډول تشريح کيږي:

**١- ( ب ) /b/ :**

غبرګ شونډيز ، غړن تم بيواك آواز دی . څه ناڅه سپك اداکيږي او سابيزه ځانګړتيانه لري.

په ټولو موقعيتونوکې راځي:

بيلګې يې دادي:

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| بر | = | / bar / | - | بريت | = | / bret / |
| اوبه | = | / ob∂ / | - | دوبي | = | / dobi / |
| خوب | = | / xob / | - | ليونتوب | = | / Lewantob / |

دځينو نورو بيواك اوازونو سره دکلمې په سرکې ساکن ګروپونه هم جوړوي. لکه:

بريت = br : / bret /

بروس = bṛ :/ bṛus /

بزه = bz : / bza /

**٢- ( پ ) / p / :-**

غبرګ شونډيز ، ناغړن تم بيواك دی. دويلو او اداکولو په وخت کې کله په زوره او کله کمزوری تلفظ کيږي. دوه الوفونه لري: ساييز او ناساييز. ( پ ) دکلمو ، هيجاوو اوتر کيبونو په سر ، مينځ او پای کې راځي.

بيلګې يې دادي:

پور = / por /
خپه = / xapa /
ټوپ = / top /
( پ ) په خج لرونکي او بي خجه څپه کې راځي:
رپا = / ra pá /
څپه = / Ca pá /
پنځه = / Pinj ∂ /
پوره = / Pū rá /
دځینو کانسوننتونو سره ساکن ګروپونه هم تشکیلوي:
لکه: پر = پریکلول = Pr: prekaw∂l
پر = پړانګ = Pr: Prang
پسه = پسه = Ps: ps∂
**۳- ( د ) / d / :**
غاښیز ، غږن تم بیواك اواز دی ، څه ناڅه سپك ویل کیږي او ساییز لوخه نه لري.
( d ) د آره د ( ت ) غږن ډول دی . د کلمو ، څپو او ترکیبونو په سر، مینځ او پای کې راځي.
بیلګې یې دادي:
درې = / dre / - داد = / dād /
دام = / dām / - بادام = / bādām /
او داسې نور.
په خج لرونکي اوبې خجه سیلاب کې راځي:
واده = wa d∂
بیدیدل = bi de d∂l
( د ) د ځینو نورو بیواکو او نیمواکو سره په سرکې ساکن ګروپونه هم جوړوي. لکه:
در – درې = dr : dre
دړ- دړکیدل رپیدل = dr: dr∂ked∂l
دو – دواړه = dw : dwārạ
دیـ - دیارلس = dy: dyārlas
**۴- ( ت ) ط / t / :**
غاښیز ناغږن تم بیواك اواز دی . څه ناڅه دروند اداکیږي او لږو ډیر ساییزه ځانګړتیا لري چې له دې پلوه دوه الوفونه لري ساییز او ناساییز.
( ت ) دڅپو ، کلمو او ترکیبونو په سر ، مینځ او پای کې راځي.
بیلګې یې دادي:
تور = tor - تریخ = trix
وتل = wat∂l - بیلتون = beltun
توت = tūt - تار = tār
( ت ) دځینو کانسوننتونو سره په سرکې ساکن ګروپونه هم جوړوي.

لکه :

tx : tx∂rg = تخرگ

tr: tror = ترور

tl : tl∂l = تلل

له نیمواك یا سیم واول سره = تیاره = ty: tyar∂̄

همدارنګه په خج لرونکي اوبې خجه سیلاب کې هم راځي:

بیلتون = bel tūn

تربور = tar būr

**۵- ( ډ ) / d / :**

اووریز ، غبرګ ژبیز غبرن ، تم بیواك اواز دی. لرو ډېر دروند ویل کیري ځه ناځه سابیزه ځانګرتیا لری.

( ډ ) / d / له آره د ( ټ ) غبرن ډول دی ، دویلو په وخت کې یې ژبه غبر ګیری او دهغې دڅوکې لاندې برخه له اوو سره نښلي او بیا په ډېرې چټکۍ سره یوازې یو وار خوځون مومي. له دې کبله ورته یو واریز رپنده غږ هم ویلی شو.

( ډ ) / d / د څپو ، کلمو او ترکیبونو په سر، منځ اوپای کې راځي

بیلګې یې دادي:

( ډ ) دکلمې په سرکې لکه : ډول= dol - ډیر – der

( ډ ) د کلمې په منځ کې لکه: بډه = bada سوډر sodar

( ډ ) د کلمې په پای کې لکه : ډنډ = dand- پنډ pand

داغږ په خج لرونکي اوبې خجه څپو کې هم راځي:

ډوډی - / do d∂y /

سوډر - / so dar /

کونډه - / kw∂n da /

**۶- ( ګ ) / g / :-**

منځني تالوییز ، غبرن تم بیواك اوازدی . څه ناځه سپك – اداکیري او سابیز رنګ نه لري.

( ګ ) له آره د ( ك ) غبرن ډول دی.

دمورفیمونو ، کلمو په سر، مینځ او پای کې راځي.

مثالونه یې دادي: ( ګ ) دکلمې په سرکې: ګرم = gram – ګروهه = groha

( ګ ) دکلمې په مینځ کې : لرګی = largay – منګی mangay

( ګ ) دکلمې په پای کې : ډاګ = dag - پرګه = p∂rga

**په خج لرونکي اوبې خجه څپوکې راځي:**

خرګند - Car gand

pə̑r ga - پرگه

دځینو بیواکو سره ساکن ګروپونه هم جوړوي:

gr- : grān = ګر = ګران

gr- : graz = ګړ = ګړز

**۷- ( ك ) / k /:**

وروستی تالوییز ناغړن تم بیواك اواز دی تلفظ یې څه ناڅه دروند دی ، لږ ډیر سابیز والی لري.
اوله دې مخې دوه ( سابیز اونا سابیز ) الوفونونه لري یعني کله تم تړلی اوکله تم واز تلفظ کیږي.

( ك ) د کلمې په سرکې لکه : کار = kar - کور = kor

( ك ) دکلمې په مېنځ کې لکه: ښکار = skar اټکل = atkal

( ك ) دکلمې په پای کې لکه: کلك = klak - کك = kak

دځینو کانسوناتو سره ساکن ګروپونه هم تشکیلوي. لکه:

کړ - : کړوپ - krūp : - kr

کس - : کسل – ksəl : - ks

کښ-: کښل – ksəl : - ks

کل - : کلك- klak- : - kl

**۸- ( ټ ) - / ṭ /:**

اووریز ، غبر ګژییز ، ناغړن تم بیواك اوازدی ، دروند ویل کیږي څه ناڅه سابیزدی ، دتلفظ او وینګ پر مهال یې ژبه راغبرګیږي او د ژبې دڅوکې لاندې برخه له اووریو سره نښلي اوبیا په خورا چټکی بیوازې یو وار خوځون مومي . له دې امله ورته یو واریز رپنده غږ.هم ویلای شو. د ( ټ ) اواز د څپو، مورفیمو او کلمو په سر، منځ او پای کې راتلای شي مثالونه یې دادي:

دکلمې په سرکې لکه : ټول = ṭol

دکلمې په مینځ کې لکه : لټول = Lataẉəl

دکلمې په پای کې لکه : پټ = pəṭ

## دوهم – مښلي ( احتکاکي) بیواك اوازونه:
## ( Fricative )

احتکاکي هغه اوازونه دي چې دهغوی د اداکولو په وخت کې په غږیز وتونځي کې احتکاك پیښ شي.

په پښتو ژبه کې مښلي یا احتکاکي بیواك اوازونه له دغو پورغږونو : ( ف ، ع ، ح ، اونورو) پرته ( ۹ ) دي

هریویې په لاندې ډول در پیژنو:

**۱- س / s /:**

مخنی ژبیزاو وریز ناغړن مښلی بیواك غږ دی.

دویلو په وخت کې یې دژبې برني مخ څه ناڅه غوڅه بڼه غوره کوي او په همدې اساس ورته ( صفیری) = ناوه یې ) اواز هم وایي
د ( س) اواز دڅپو، کلمو او ترکیبونو په سره منځ اوپای کې راځي.
مثالونه یې دادي:
( س) د کلمې په سرکې : سپور= spor – سر = Sar
(س) د کلمې په منځ کې: هوسی = hos∂y
(س) د کلمې په پای کې : لاس = Lās هوس hawas
دا اواز په خج لرونکي او بې خجه څپو کې راځي!
Lma sáy = لمسی
Sa ráy = سړی
دځینو بیواکو غږونو سره په سرکې ساکن ګروپونه هم جوړوي لکه په دا لاندې کلموکې:
سپ - سپور = Sp -: Spor
ست - سترګه = St -: St∂rga
سخو - سخوندر = sxw: sxwand∂r
سر - سریښ = Sr-: Sris
سك - سکور = Sk -: Skor
او نور.......

**۲- ز / z /:**

اووریز مخنی ژبیز ، غږن مښلی بیواك اواز دی.
دې غږ ته هم ځینې پوهان صفیري بیواك وایي.
( ز ) له آره د ( س ) غږن ډول دی. دا بیواك دڅپو ، کلمو او ترکیبونو په سر ، مینځ او پای کې راځي.
مثالونه یې دادي:
( ز ) د کلمې په سر کې = زړه = Zr∂ - زر Zar
( ز ) د کلمې په پای کې – اواز = awaz - پیاز Pyaz
( ز ) د کلمې په منځ کې پزه = Paza
**دا اواز په خج لرونکو او بې خجه څپو کې هم راځي:**
Ze ŕay = زیری
Zya r̄∂ń = زیارن
**دکانسو نینتونو ساکن ګروپونه هم جوړوي: لکه:**
زب - : زبېښل = Zb -: Zbes∂l
زد - : زدویل= Zd -: zdoy∂l

زګ - : زګروی = Zg-: zgerwaý

زړ - : زړه = Zr̥ -: zr̥∂

**۳- ش / š /:**

اووری – تالوییز ، احتکاکي ناغږن صفیري بیواك دی. دکلمو ، څپو ، ترکیبونو په سر ، منځ او پای کې راځي

**بیلګې یې دادي:**

شپه = špa

شړشم = šar̥ šam

میاشت = mya št

تش = t∂š

**دځینو اواز نو سره دکانسونانتو ساکن ګروپونه هم جوړوي:**

شت - شته = št:- št∂

شخو - شخوند = šxw :- šxwand

شم - شمېر = šm :- šmer

شل - شلول = šl :- šlaw∂l

شړ - شړپی = šr̥ :- šr̥apay

**دا اواز په خج لرونکو او بې خجه څپو کې را تلای شي:**

شاړه = šā r̥a

مشري M∂š rí

**۴- ژ / Ž /:**

مخنی ژبیز تالوییز ، غږن احتکاکي صفیري بیواك دی.

دکلمو او مورفیمونو په سر او مینځ کې یې استعمال ډېر لیدل کیږي دکلمې په پای کې یې کارونه په نظر نه راځي.

بیلګې یې دادي:

ژبه = ž∂ba - ژرنده = žranda

ژوند = žwand

رژیدل = ražed∂l – وژل Wažǝl

**د ( ژ ) غږ په خج لرونکي او بې خجه سیلاب کې راځي:**

ژمی = ž∂ máy

ژاولن = žaw laṅ

د ځینو کانسوننتو نو په سرکې ساکن ګروپونه هم جوړوي. لکه

ژب -: ژباړه = žb-: žbā r̥a

ژر -: ژرنده = žr -: žranda

ژغ-: ژغورل = žğ-: žğor∂l

یادونه: د ( ژ ) غږ دارو پایي ژبو څخه ددخیلو کلمو په پای کې لیدل کیږي . لکه د مساژ **mas až** کلمه

همدارنګه همداغږ دپښتو ژبې په ګړدودو کې ګړدودیز وریا نتونه لري. لکه: ژرنده **žranda**- jranda – randa

**۵- ښ / s / :**

( ښ ) اواز دپښتو ځانګړی توری دی چې په دري اوعربي ژبه کې نشته. دا اواز دپښتو په بیلابیلو ګړدودونو ( لهجو ) کې په بیلابیلو ډولونوسره ویل کیږي.

دپیښور او ننګرهار په ګړ دو دوکې ( خ ) = / x / غوندې تلفظ کیږي.

په منځنی پښتو ( وردګو ، لوګر، غزني ) کې یو وروستی تالوییز ناغږن مښلی بیواك غږ دی. د اداکولو په وخت کې یې دژبې وروستی برخه د تالو له وروستی برخې سره نښلي ترڅو دساهوا جریان د اواز په زیږ دځې کې مښنه او سولیدنه مومي.

لکه په دې لاندې مثالونوکې:

Xwas = خوښ Sar̄ - ښار Pəsto = پښتو

او داسې نور....

همدا اواز ( فونیم ) دقندهار ، هلمند ، او کویټې په ګړدو دوکې مخنی تالوییز ، غبرګژییز، مښن نا غږن ( **š** ) دی .

( ښ ) اواز د څپو ، کلمو اوتر کیبونو په سر ، مینځ او پای کې راځي.

بیلګې یې دا دي:

ښ د کلمې په سرکې لکه : ښکار = Skār

ښ د کلمې په منځ کې لکه: لوښی = Lo śay

ښ د کلمې په پای کې لکه: غاښ = ğās

په خج لرونکي اوبې خجه څپو کې راځي کله کله بیواك غونډونه هم جوړوي:

غشی ğa sāy

ښځه = Sə ja

ښکار = Skār = بیواك غوند

**۶- ږ / Z / :**

دا اواز ه د پښتو په بیلا بیلو ګړدو دونو ( لهجو) کې په بیلابیل ډولو ویل کیږي.

په ختیځ ګړدو دکې ( ګ ) غوندې تلفظ کیږي او په منځي ګړدود ( لهجه ) کې یو وروستنی تالو ییز ، غږن ، مښلی بیواك دی. د تلفظ په وخت کې یې دژبې وروستی برخه د تالو له وروستی برخې سره نښلي.

همدغه فونیم ( ږ ) دکندهار، هلمند او کویټې په ګړدو دو ( لهجو) کې مخنی تالوییز غبرګژییز ، مښلی ، غږن او د ( ž) غوندې اداکیږي.

دا اواز د څپو ، کلمو او ترکیبونو په هره برخه کې راځي.

دکلمې په سرکې لکه : ږلی = Zaləy - ږدن = Zdən

دکلمې په منځ کې لکه اوږد = ūzd وږی = wəzay

دکلمې په پای کې لکه: کوږ = Koz - زوږ = Zwaz

همدارنګه ( ږ ) اواز په خج لرونکو او بې خجه څپو کې راځي:

Zí ra = ږيره

Waz má = وږمه

کله کله د بیواکو سره په سرکې ساکن ګروپونه جوړوی:

zd∂n = ږدن

Zm∂nj = ږمنځ

**۷- خ / x / :**

وروستنی تالوییز ، مښلی ناغږن بیواك اواز دی.

دڅپو ، کلمو اوتر کیبونو په هره برخه کې راځي.

مثالونه يې دادي:

( خ ) د کلمې په سرکې لکه: خوږ = Xoz خپل = Xp∂l

( خ ) دکلمې په مینځ کې: تخته = taxta – توخا = tuxa

( خ ) د کلمې په پای کې: مخ = max – تریخ = trix

**دا اواز په خج لرونکو او بې خجه موقعیت کې راځي:**

خاوره = Xaw ra

ختيځ = Xa tij

**د ( خ ) اواز دځینو کانسوننتونو سره په سرکې ساکن ګروپونه جوړوي:**

**لاندې بیلګې وګورئ:**

خپ -: خپرول= xp -: xparaw∂l

خر -: خراړه = Xr -: xra ra

خل - : خلاص = xl -: xlas

خڼ - : خڼه = Xn -: xna

خې - : خیال = xy -: xyal

**۸- غ / γ / یا / ğ / :**

وروستنی تالوییز مښلی غږن بیواك دی. دڅپو، کلمو اوترکیبونو په هره برخه کې راځي.

بیلګې يې دادي:

( غ ) د کلمې په سرکې لکه: غوا= ğwa – غر = ğar

( غ ) د کلمې په منځ کې لکه: روغتیا= roğtya – مرغلره = marğal∂ra

( غ ) د کلمې په پای کې : روغ = roğ

دا اواز کله کله دنورو بیواکو سره ساکن ګروپونه هم جوړوي او همدارنګه په خج لرونکو اوبې خجه څپو کې راځي:

لاندې مثالونه وګورئ:

غاره – ğa ra

ğa n∂m - غنم

غب : غبرگ = ğb -: ğbarg
غړ : غړپ = ğr -: ğrap
غل : غلا = ğl -: ğla
غو : غوږ = ğw -: ğwaz

**۹- هـ / h /:-**

ستونیز ( حلقي) ناغږن ، سايیز مښلی بیواك غږ دی.

دڅپو او کلمو په هره برخه کې راځي او په پای کې په خپلواك غږ (a ) یعنی فتحه اوړي.

**بیلګې يې دادي:**

دکلمې په سرکې لکه: هڅه = haca – هر = har

دکلمې په منځ کې لکه: لاهو = la hu - هير her

د کلمې په پای کې لکه : برخه = barxa هندوانه hind wanā

دا اواز په خج لرونکو اوبې خجه څپو کې راځي: لکه:

وهل = Wa h∂l

بهير = ba hir

هيرول= he ra w∂l

د / h / فونیم په عامه اولسي وینا یا محاوره کې نه ویل کیږي او په ( a ) بدلیږي لکه په دا لاندې کلموکې:

هلك = hal∂k ← al∂k

هګی = hag∂y ← ag∂y

او نور.....

**دريم اړخيز ( مايع ) بيواك اوازونه:**

**په پښتو ژبه کې اړخيز ( مايع ) بيواك اوازونه درې دي:**

( ل – ر – ړ ).

**۱- ل / ℓ / يا / L /:**

مخنی ژبيز اړخيز او وريز ، غږن بيواك اواز دی. دڅپو ، کلمو ، ترکيبونو په سرمينځ او اخر کې راځي.

بيلګې يې دادي:

د کلمې په سرکې لکه: لوړ = lwar – لار ≡ lar

د کلمې په منځ کې لکه : څلور=Calor – تالو= talū

دکلمې په پای کې لکه: مل = mal –

د / ℓ / بيواك غږ په خج لرونکي او بې خجه څپو کې راځي:

tā lū= تالو
lamən =لمن
( ل ) دیو لړبیواکو او نیمواکو اوازونوسره د کلمو په منځ او اخر کې یو خپیز غوندونه جوړوي.
لم - : لمر = Lm :- lmar
لو-: لوړه = Lw :- lwəza
لیـ -: لیاشه ( نیښ) = ly:- Lyaša
**۲- ر / r /:**
مخنی ژبیز ، اړخیز اوریز ، رپاند، غږن بیواك اواز دی. دویلو په وخت کې یې دژبې سر اوریو ته نژدې کیږي ، بیا ژبه څو پلاریږي. نوله همدې کبله دې اوازته رپیدونکی بیواك اواز هم وايي.
دا اواز د کلمو ، څپو ، ترکیبونو په درې واړو موقعیتونو کې راځي.
**بیلګې یې دادي:** rog = روغ
wraj= ورځ
wror = ورور
**په خج لرونکي او بې خجه څپو کې راځي:**
rab ra - ربړه
ro sā na - روښانه

د ځینو کانسونینټونو سره په سرکې ساکن ګروپونه هم جوړوي:
رغ - : رغښتل – rgastəl :- rg
رو-: روځ - rwaj – :rw
ري - : ریاشه ( ریشه ) – ry:- rya ša
تر - : تره – tr : - trə
ور-: وراره – wr: - wrarə
**۳- ړ / r /:**
اړخیز ، غبرګژبیز ، اووریز غږن بیواك اواز دی. د تلفظ او ویلو په وخت کې یې دژبې دڅوکې لاندنۍ برخه راغبرګیږي او د اووریواو مخني تالو په برخه کې نښلی او بیا ژر په چټکۍ سره یو پلا رپیږي یعنې کښته را ایله کیږي
دا اواز د ژبنیو ټوکونو به هره برخه کې راځي .
بیلګې یې دادي:
په سرکې : ړوند – rūnd
په منځ کې: اړخ – arx
په پای کې: زوړ - Zor
په خج لرونکو او بې خجه څپو کې راځي:
مړاوی – mra way

ژړول – žạ rạ w∂l

دکلمو په سرکې د کانسونينتونو سره دساکنو ګروپونو دلومړي غړي په حيث نه راځي. کيداى شي د دوهم غړي په حيث ساکن ګروپ جوړ کړي لکه په دې لاندې مثالوکې:

پړانګ - Prạng

وړم - wr̩∂m

**څلورم – پزيز ( انفي يا خيشومي ) بيواک اوازونه:**

دا هغه اوازونه دي چې دهغوى داداکولو په وخت کې په غږيز(صوتي) وتونځي کې نه احتکاک پيښيږي او نه دانسدادي اوازونو په څېر د مخرج تړل او دفعتآ پرانيستل واقع کيږي. لکه دا هغه اوازونه دي چې په حنجره کې پيدا شوې وي او وروسته دخولي اوپزې په واسطه يو ډول اوبل ډول کيږي.

پزيز بيواک اوازونه په پښتو ژبه کې درې دي:

( م - ن - ڼ )

هر يويې په لاندې ډول تشريح او معرفي کيږي:

**١ - م / m /:**

غبرګ شونډيز، غږن ، پزيز بيواک اواز دى .

دوينا د توکونو په هره برخه کې راځي . بيلګې يې دادي.

دکلمې په سرکې لکه: موړ = mor / مار= mar / مور = mor

دکلمې په مينځ کې لکه: مرچ = mr∂č / لمن = lam∂n

دکلمې به پاى کې لکه: غنم = ğan∂m / منم = man∂m

دځينو کانسونينتونو سره په سر کې ساکن ګروپونه هم تشکيلوي:

مر- : مرانده – mrā́nda :- mr

مړ-: مړاوی – mṛ :- mṛa̅way
مل -: ملا - mL:- mlā

**۲- ن / n /:**

مخنی ژبیز ، اوریز غږن پزیز بیواک اواز دی ، دتلفظ په وخت کې یې دژبې سر د اوریو سره نښلي او هوا دپزې له لارې وځي.
د ( ن ) فونیم درې بلغږونه ( الوفونه ) لري.
که ترغاښیز اواز دمخه راشي غاښیز اداکیږي. لکه: دبند band او سنتره Santara په کلمو کې
که تر واول یا اووریز اوازونو دمخه راشي اووریز اداکیږي.
لکه: د / انار anar / او / انا ana / په کلموکې.
او که تر وروستي تالوییز اواز (ګ – ک) دمخه راشي نو بیا وروستی تالوییز اداکیږي. لکه د / انګور angur / زنګون zangūn / په کلموکې.
سربیره پردې الوفونونو ( ن ) کله کله په ( م ) هم اوړي یابدلیږي.
مثلاً: که تر ( ب ) دمخه راشي لکه : / شنبه / šanba /
/ سنبله sunb∂la / چې شمبه او سمبله ویل کیږي.
د ( ن ) اواز دوینا د توکونو په هره برخه کې راتلای شي.
په سر ، منځ او پای کې یې مثالونه دادي.

نور – nor
انا - ana
من - man

دا اواز په خج لرونکو او بې خجه څپو کې راځي:

لمن – la m∂́n
ړنده – ṛan dá

د ځینو کانسو نینټونو سره په سرکې ساکن ګروپونه هم جوړوي.
لکه دا لاندې مثالونه:

نج - : نجلی – nj -: nj∂l∂́y
نږ - : نږور - nẓ -: nzọr
ند - : ندرور – nd -: ndror
نغ - : نغښتل – nğ -: nğaṣt∂l
نم -: نمانځل – nm -: nmānj∂l

**۳- ڼ / ṇ /:**

غبرګژبز ، تالوییز ، غږن ، پزیز بیواک اواز دی ، چې دویلو او تلفظ په وخت کې یې د ژبې دڅوکې لاندینی برخه راغبرګیږي او تالو مخنی پرخې سره نښلي ، هوا دپزې له لارې وځي.
دا اواز ( ڼ ) د کلمو په سرکې نه راځي ، د کلمې په مینځ او پای کې راځي. دنورو کانسوننتونو سره په سرکې ساکن ګروپونه هم نه جوړوي . مثالونه یې دادي:
/ منه – maṇa / ، کنه kaṇa
/ بڼ – baṇ / او نور

/ رون / rūṇ /

**پنځم – تم مښلي بیواک اوازونه:**

په پښتو ژبه کې تم مښلي بیواک اوازونه څلوردي:

( ج - چ - ځ - څ - )

**۱- څ / c /:**

اووریز ، ناغړن تم مښلی بیواک اواز دی . وینګ اوتلفظ یې داسې دی چې " ت " تم غږ او " س" مښلی غږ دواړه پریوه وخت له یوه زیږ ځې څخه دیوه اواز ( فونیم ) په توګه راوځي:

بیلګې یې دادي:

څار – cár / څاروي carwi څانګه canga /

بڅرکی – bac∂rky / لڅ l∂c /

( څ ) دژبنیو توکونو په هره برخه کې راځی او همدارنګه په خج لرونکي اوبې خجه څپو کې هم راځی:

اڅک – a c∂k

څلور – ca lor

ځینو کانسوننتونو سره په سرکې ساکن ګروپونه هم جوړوي:

څخ – څخول – cx : - cxaw∂l

څر - څرک - cr : - cr∂k

څړ - څړیکه - cr̩ : cr̩ika

څښ – څښل - cs̩:- cs̩∂Ľ

**۲- ځ / j̈ /:**

اووریز ، غږن ، تم مښلی بیواک اواز دی چې دغږ پوهنې ( فونولوجیکي ) پلوه له مښلي ( ز ) او تم ( د ) څخه ګډجوړ شوی غږ دی خو د آواز پوهې له پلوه یو یوازینی آواز ( فونیم ) بلل کیږي اود ( څ ) غږن ډول دی.

د ( ځ ) اواز د څپو ، کلمو او ترکیبونو په هره برخه کې راتلای شي.

مثالونه یې دادي:

( ځ ) د کلمې په سرکې : لکه:ځای - Jāy / ځوان Jwān

( ځ ) دکلمې په منځ کې لکه: رنځور ranJur / مینځه – minJa

( ځ ) د کلمې به پای کې لکه : ورځ – wraj

به خج لرونکي او بې خجه څپو کې هم راځي:

ځیني – Ji ni

مینځه – min ja

د ( ځ ) اواز دځینو کانسوننتونوسره په سرکې ساکن ګروپونه هم جوړوي:

ځب - ځبیښل – j̈b :- j̈bes∂l

ځغه - ځغاسته - j̈ğ :- j̈ğas̩ta

jw :- jwaṛ –     څو - څوړ

**۳- چ / č /**

اووریز یا زیږ تالوییږ ناغږن تم مښلی بیواک اواز دی.
به فونتیکي ډول له مښلي ( ش ) او تم ( ت ) څخه جوړ شوی دی. خود پښتو دفونیمیکس نظام له مخي دیو یوازیني اواز بڼه غوره کوي.
دویلو او تلفظ په وخت کې ( ت ) او ( ش ) له زیږ د ځي څخه همهال راوځی.
دا اواز دکلمو ، مورفیمونو په سر ، مینځ او پای کې راځي.
( چ ) دکلمې په سرکې لکه : چرګ – č∂rg / چای čāy
( چ ) د کلمې په مینځ کې لکه: میچن´ mečan
( چ ) دکلمې په پای کې لکه: وچ –´ w∂č / سوچ soč
دا اواز دځینو کانسوننتونوسره په سرکې ساکن ګروپونه هم جوړوي.
لکه په لاندې مثالوکې:
چړ - : چړپی – čṛa pay :- čṛ
چښ: چښاک – čṣāk :- čṣ
چو - : چوار ( څوړند) – čwar :- čw

**۴- ج / J /:**

اووریز ، تالوییز ، غږن تم مښلی بیواک اواز دی. دسپنیوهې له پلوه د ( ځ ) او ( د ) له ګډون ، نه ، یو جوړشوی آواز دی. خود پښتو فونیمیکي نظام له مخې یو یوازینی اواز دی. دتلفظ په وخت کې یې ( د ) او ( ځ ) یو وار غبرګ له یوه وتوځي راوځي او دا آواز له آره د ( چ ) غږن ډول دی.
دا آواز د څپو ، کلمو او ترکیبونو په هره برخه کې راتلای شي:
مثالونه یې دادي:
( ج ) دکلمې په سرکې = جاج –̄ jaj / جوار̄ jwar /
( ج ) دکلمې په منځ کې = رانجه –´ ranǰ∂ / رجهٔ – raja
( ج ) دکلمې په پای کې = خج – xaj /
په خج لرونکي او بې خجه څپو کې راځي:
رجه´ ra ja´
جواري – jwa̅ ri

**دا اواز دځینو کانسوننتونو سره په سرکې ساکن ګروپونه هم جوړوي:**

جر – جرنګ – jrang :- jr
جئ – جړامبو –´ jṛa̅mbo :- jr
جو – جورای – jwa̅raý :- jw

همدارنګه دپښتو ژبې په دودیزه الفبا کې له پورته یادشوو کانسوننتونو فونیمونو پرته لس نور دعربي ژبې دخیل فونیمونه هم شته چې په مستعار ډول په عربي کلمو کې استعمالیږي:
**دا اوازونه دا دي:**
( ث ـ ص ـ ط ـ ظ ـ ذ ـ ع ـ ف ـ ق ـ ح )

داپورته عربي فونیمونه په پښتو ژبه کې په قریب المخرجه اوازونو اوړي.
یعني: ( ث – ص ) به ( س) ، ( ط ) په ( ت ) او ( ظ ، ذ ) به ( ز ) تلفظ کیږي مګر په لیکنه کې په خپل عربي شکل لیکل کیږي.
بیاهم په ځینو مواردوکې ددې عربي اوازونو لپاره ځینې فونیمیکی نښې به لاندې ډول لیکل شوي دي:
۱- / ث / - / c / لکه: ثابت ، وارث ، باعث
۲- / ذ / - / z / لکه : ذلت ، ذکور ، مأخذ
۳- / ح / - / H /لکه: حوض ، حاضر، حضور
٤_ / ص/ - /S/ لکه: صبر ، صبور
٥_ / ض/ - /Z/ لکه: ضرر، حضور ، ضامن
٦_ / ط/ - / t / لکه :باطن ، طلب ، ناطق
۷_ / ظ/ - /Z̄/ لکه :ظلم ، مظلوم ، ناظم
۸_ / ع/ - / ɐ/لکه : عادت ، طاعت ، معلم
۹_ / ف/ - / F/ لکه : فرمان ، کافر ، نافع
۱۰_/ ق/ - / q/لکه : قاموس ، توافق ، موافق

## دریم – نیمواک یا ( semi vowels ) اوازونه:

سربیره پر دوو ډلو اوازونو ( خپلواک اوبیواکو) په پښتو ژبه کې دریم ډول اوازونه نیمواک یا سیم واول اوازونه دي چې واول ته نژدې آواز لري.
نیمواک اوازونه هغه اوازونو ته ویل کیږی چې دخپلواکو او بیواکو اوازونو ترمنځ منځګړیتوب کوي یا به بله وینا د دواړو ځانګړتیاوې لري. یعنی کله دخپلواکو او کله دبیواکو نمایندګي کوي.
بیواک اوازونه که چیرې دڅپې زړی او هسته وګرځي دخپلواکو بڼه اخلی او که دڅپې هسته ونه ګرځي نود بیواکو به بڼه ځرګندیږي او دبیواکو چار په غاړه اخلي.
پښتو دوه نیمواک اوازونه لری:
( و = w ) لکه : / ور war / ، ونه w∂na / اوداسې نور
( ی = y ) لکه : / یوم yum / یار¯yar / او نور
دپښتو ژبې په غږیز جوړښت کی دسیم واول / w, y / توپیر دواولونو سره په ځرګند ډول لیدل کیږي هغه داچې :
۱- هیڅکله / y / . / w / دنورو کانسوننتونو په شان دسیلاب د غږي په حیث دسیلاب څوکه او هسته نه جوړوي . په داسې حال کې چې واولونه سیلاب جوړوونکي دي او دسیلاب دهستې په حیث راځي.
۲- واولونه هیڅکله په پښتو ژبه کې دکانسننتونوسره ساکن ګروپونه نه جوړوي په داسې حال کې چې / y / ، / w / دساکن ګروپونو دغړو په حیث راځي: / وری =wray– /، بیا = bya / ویاړ = wyar / ولاړ_wlar / زیار zyar/ او نور......

**۱- و / w /:**

ناڅپیز ( غیر هجایی) او د ( ū) واول کانسوننت شکل دی.
یعنې که چیرې دا اواز ( w ) دهیجاد هستې اوزړي په توګه واقع نه شي نو بیواک غږیا اواز ګڼل کیږي.
دانیمواک اواز دڅپو ، کلمو او ترکیبونو په هره برخه کې راتلای شي.
ددې اواز دویلو او تلفظ په وخت کې دواړه شونډې سره نږدې کیږي، مګر یوه شونډه دبلې سره نه نښلي.
دا اواز په آخر دکلمې ، هیجا او نورو کې د دیفتانګ په شکل راځی یعنې د دیفتانګ دیوجز په توګه راځي. بیلګې یې دادي:
/ ور war / ، / خوړین xwriṇ / ،/ ولورwalwar / اوداسې نور

**۲- ی / y /:-**

دا آواز غیر هیجایي اود ( i ) دواول کانسوننت شکل دی.
یعنې که چیرې دا اواز د څپې یا سیلاب دهستې په توګه واقع شي واول یا څپلواک ګڼل کیږي او د ( ي – i ) په شکل تلفظ کیږي او که چیرې دهیجا دهستې په توګه واقع نه شي نو کانسوننت یا بیواک ګڼل کیږي او د ( y ) په شکل تلفظ کیږي.
ددې اواز دتلفظ او ویلو په وخت کې دژبې اړخونه تالو خواته هسک کیږي اود تلفظ نورې ځانګړتیاوې یې له ( ي = i )سره دومره توپیر نه لري. د / y / اواز دڅپو ، کلمو او ترکیبونو په سر او مینځ کې راځي او په پای کې یوازې دغبرګغږ ( دیفتانګ ددویم غړي په توګه راتلای شي.
مثالونه یې دادي:
/ یو yaw / ، / یخ yax /،/ویل way∂l / ،/ سړی saraỵ / اوداسې نور.....

## څلورم - غبرګغږونه ( Diph thongs )

په فونیم پیژندنه کې دیفتانګ یوه ځانګړې اصطلاح ده چې هم د فونیټکس او هم د فونیمکس ( فونولوژي) له نظره توضیح کیدای شي.
دفونیټکس له نظره : ددوو واولونو هغه ترکیب ، چې دیوه اواز په ډول تلفظ کیږي ددیفتانګ په نامه یادیږي.
که څه هم دا واولونه دیوې ژبې په غږیز جوړښت کې دبیلو، بیلو فونیمونو په حیث موجود وي.
دفونولوژي له نظره: دیفتانګ د دوو واولونو هغه ترکیب ته ویلای شوچې:
۱- دواړه واولونه دیوه اواز حیثیت ولري.
۲- دواړه واولونه په یوه سیلاب یا هیجا کې وویل شي.
۳- دواړه واولونه دیوه سیلاب دهستې په جوړښت کې مساوي برخه ولري
۴- ددواړو واولونو ترمنځ سیلابیک سرحد جوړ نه شي.
۵- دواړه واولونه یو فونیم تشکیل کړي.

( عمومی فونیم پیژندنه ) چې دپروفیسور زیندر یو مشهور اثر دی ، دی پخپل دې اثر کې ( ددوو واولونو داسی ترکیب دیفتانګ ګڼی چې ددې ترکیب یوغړی سیلاب جوړونکی استعداد له لاسه ورکوی.) بل پوه په لړه زیاتونه: هغه غړی چې خپل سیلاب جوړونکی خصلت له لاسه ورکوي دسیمي واول یا واول وزمه په نامه یادوي.

دپورته څرګندونو په رڼا کې کله چې په ژبنیو څیړنو کې ددیفتانګونو پرمسأله بحث کيږي نو معمولاً په ترکیبونو کې د دوو واولونو مسأله طرحه وي نه دواولونو او کانسوننتونو دیو ځای کیدو مسأله.

استاد دوکتور مجاور احمد زیار پخپل اثر پښتو پښویه کې دیفتانګونه په پښتو کې غبرګغږونه بللي دي او داسې يې راپيژني:

دپښتو غبرګغږونه دخپلواکو او نیمواکو اوازونو له پرله پیسوالي او تړښت څخه منځ ته راځي. په بله وینا هرپښتو غبرګغږ دوه فونیمی توکونه لري. لومړی توک يې خپلواک او دویم يې نیمواک وي.

له همدې کبله پښتو غبرګغږونه دغبرګو اوازونو په توګه څیړل کيږي نه د یوستوو آوازونو په توګه.

څنګه چې پښتو نیمواک اوازونه دوه دي، نو غبرګغږونه يې هم په دوه ډولو ویشل کيږي:

الف – د ( و = w ) غبرګغږونه

ب – ( ی = y ) غبرګغږونه

- د ( و = w ) غبرګغږونه په پښتو کې په لاندې ډول دي:

iw لکه په تریو - triw کې

ew لکه په لېو - lew کې

aw لکه په لو - law کې

$\bar{a}$w لکه په پړاو - paṛ$\bar{a}$w کې

$\partial$w لکه په کتو - kat$\partial$w کې

دغه ټول غبرګغږونه د کلمو اولغتونو په پای کې راځي.

یوازې ( aw ) او ( a$\bar{w}$ ) د کلمو اولغاتو په سراومنځ کې هم راځي.

– د ( ی = y ) غبرګغږونه:

د ( y ) غبرګغږونه په پښتو کې په لاندې ډول جوړيږي:

ay لکه په سړی = saṛay – وری wray او زلمی zalmay کې.

$\bar{a}$y لکه په پای = p$\bar{a}$y - پایله = p$\bar{a}$yla او ځای za$\bar{y}$ کې.

$\partial$y لکه په نړی = naṛ$\partial$y – خولی = xwal$\partial$y او هګۍ hag$\partial$y کې.

$\bar{u}$y لکه په خوی = x$\bar{u}$y - بوی = bu$\bar{y}$ او دوی duy کې.

oy لکه په زوی = zoy - سوی = soy او لوی loy کې

له دغو غبرګغږونه څخه ځیني یوازې دکلمو اولغتونو په پای کې او ځیني يې په سره منځ او پای کې راځي

## دپښتو بیواکو ( consonants ) او نیمواکو ( Semi – vowels ) اوازونو دزیړ ځیو اوزیړ ډولو جدول:

| زېږدځای / زېږدډول | | غبرګشونډيز | شونډ غاښيز | غاښيز | اووريز | غبرګژبيز | اورى تالوييز | منځ تالوييز | وروستى تالوييز | ژبى تالوييز | حلقيز، کويز | ستونيز |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ځ | غږن | ب b | | و d | | ډ ḍ | | | ګ g | | | |
| | ناغږن | پ P | | ت t | | ټ ṭ | | | ک k | | | ق q |
| مښلی | غږن | | | | ز z | ږ ẓ | ژ ž | | ږ (۱) ğ | غ γ | ع 𝒴 | |
| | ناغږن | | ف F | | س s | ښ s̤ (۱) | ش š | | ښ x̌ | خ x | ح h | هـ h |
| ځ مښلی | غږن | | | | ځ ǰ | | ج j | | | | | |
| | ناغږن | | | | څ c | | چ č | | | | | |
| مايع( ارخيز) | غږن | | | | ل L | ړ ṛ | ر r | | | | | |
| | ناغږن | | | | | | | | | | | |
| پزيز | غږن | م m | | ن n | | ڼ ṇ | | | | | | |
| | ناغږن | | | | | | | | | | | |
| نيمواک | غږن | و W | | | ی y | | | | | | | |
| | ناغږن | | | | | | | | | | | |

(۱) ښ – x او ږ – ğ په منځني کره ګړدود کې وروستی یانرم تالوييز مښلی دی ، او د کندهار په ګړدود کې غبرګژبيز دی.

**د دوهم څپرکي پوښتنې :**

۱- آواز پوهه یا فونیمیکس د فونیتکس یا غږ پوهې سره څه اړیکې لري؟

۲-( kil pike ) فونیمیکس څه ډول را پيژني ؟

۳- دیوي ژبې الفبا څه ډول را پیژنئ ؟ بشپړه الفبا کومې الفبا ته ویل کیږي؟
۴- په پښتو ژبه کې آوازونه په کومو ډلو ویشل کیږي ؟
۵- دخپلواکو یاواول اوازونو ځانګړني کومې دي؟
۶- سیمې واول او کانسوننت اوازونه څه توپیر لري؟
۷- په پښتو ژبه کې غبرګغږونه څه ډول تشکیلیږي؟ بیلګې یې ولیکئ.
۸- په پښتو ژبه کې چپ یا صامت غږونه کومو غږونو یا اوازونو ته ویل کیږي؟
۹- په پښتو ژبه کې څوکومکي یا واول اوازونه پیژنئ ؟ په ترتیب سره یې نومونه واخلئ:
۱۰- په یوه کلمه کې دهیجا یا سیلاب شمېر څنګه را په ګوته کولای شئ؟
۱۱- د ( i – e ) واولونو تلفظي بڼې په مثالونو کې راوښایاست؟
۱۲- په معیاري پښتو کې ( ږ ) او ( ښ ) څه ډول آوازونه دي؟
۱۳- دانسان صوتي غړي کوم دي؟ نومونه یې واخلئ؟
۱۴- ژبه په څو برخو ویشل کیږي؟
۱۵- ښوریدونکي صوتي غړي کوم دي او ولې دې غړوته ښوریدونکي صوتي غړي وایي ؟
۱۶- په پښتو ژبه کې دخیل بیواک اوازونه کوم دي ؟ هریو په یو مثال کې وښایاست؟
۱۷- د ( پ ) فونیم بلغږونه یا الوفونونه په مثالونو کې راپه ګوته کړی؟
۱۸- د ( ب ) فونیم دغږیز غړو دچارونو او حالتونو له مخې راوبیژنی؟
۱۹- زیرد ځای او زیرد ډول څه ډول را پیژنئ ؟
۲۰- انسدادي ، احتکاکي او طنطنه لرونکي اوازونه کوم اوازونه دي

**دریم څپرکی:**

**منځپانګه:**

مورفو فونیمیکي بدلون

اسیمیلشن(متصل _ منفصل)

دیسمیلیشن

د فونیمونو غورځیدل یاحذفیدل، د فونیمونو زیاتوالی

فونمیکه الفبا او اړتیا یې

موخې:

ددریم څپرکي د زده کړې او تدریس په پای کې به زده کړیالان په دې وتوانیږي چې:

- مورفو فونیمیکي بدلون څرګند او مثالونه یې توضیح کړای شي.
- متصل او منفصل ایسمیلیشن وپیژني او مثالونه یې وړاندې کړای شي.
- د فونیمونو یو له بله اغیز اوعوامل یې په ګوته کولای شي.

- د فونيميکي الفبا اړتيا بيانولی شي او کلمې به په دې ابيڅي ( الفبا ) په سمه ډول وليکلای شي.
-

**مورفو فونيميکي بدلون او ډولونه يې:**

مورفيم کله کله دخپل چاپيريال يا نورو عواملو دتاثير له امله بدلون مومي او بيل بيل شکلونه غوره کوي.

دمورفيم دغو بيلوبيلو بدلونونو ته چې دمحيط او چابيريال په وجه ورپيښيږي او دغه رنګه دفونيمونو داسې نورو تغيير ونوته چې په مورفيم کې دمختلفو عواملو په وجه واقع کيږي مورفو فونيميکي بدلون وايی.

مورفو فونيميکي بدلون ( morpho phone mic change ) په ځينو ژبوکې ساده او په ځينو ژبو کې ډير پيچلی وي. خوپه عمومي ډول په دوه ډوله پيښيږي: يو داچې مورفيم دکوم فونيم په وجه اغيزمن شي او تغيير وخوری.

لکه: په انګريزي ژبه کې چې ( s ) دجمعي مورفيم دی که ترغږن اواز وروسته راشي په غږن ( z ) تلفظ کيږي. لکه په eggs , rooms او roads کې.

دپورته درې کلمو په مفرد شکل کې دپای اوازونه په ترتيب سره ( m , g , او d ) دي او دغه درې واړه د غږن اواز وروسته راغلی نو د غږنتيا د اغيز له مخې ( s ) په ( z ) يعني غږن ډول اداکيږي.

او که چيرته همدغه د جمع مورفيم ( s ) تربې غږه اواز وروسته واقع شي نو بې غږه (s ) (س) تلفظ او ادا کيږي لکه د lips ، roots او books په کلمو کې چې ( p، t ، k ) اوازونه بې غږه اوازونه دي نو د جمع مورفيم ( s ) په خپل اصلي شکل (س) تلفظ او ادا کيږي او دخپل د مخني فونيم په واسطه بدلونه مومي.

دغه رنګه په پښتو ژبه کې د (ږما zma ) او ( ښتا = Sta )

په کلمو کې (ز) او (س) دمالکيت مورفيم دی که نوموړی مورفيم تر (م) غږن فونيم د مخه راشي په (ز) يعني غږن او که تر ( ت ) بې غږه فونيم د مخه راشي په ( س ) يعنې بې غږه اواز سره اداکيږي يعني نوموړی مورفيم دخپل وروستني فونيم په واسطه اغيزمن کيږی او په همدغه سبب بدلون مومي.

مورفو فونولو جيکي او ښتني کې يو اواز په يوه څپه يا يوه کلمه کې له مخکيني يا وروسته اواز سره همرنګی شي که له دغه غږيز بدلون سره مورفيمي يا ګړيز بدلون هم رامنځته شي مانا داچې مانيز بدلون هم راولي نودغه بدلون ته مورفونيميکي ( فونولوجيکي) بدلون وايي. لکه پښتو خوړ- چې آره بڼه خوريې د اوس مهال درېينې په توګه پاتې ده او بدله بڼه ( خوړ) يې دتير مهال فعل ريښه ګرځيدلې ده.

دمورفو فونيميکي بدلون يو مشهور قسم اسيميليشن ( assimilation ) نوميږي او هغه دادی چې کوم آواز دګاونډي آواز دتاثير له امله دنومړي ګاونډي آواز سره يوشی ، شي يا ورته والی پيدا

کړي. لکه په ( سنبله ) کې چې ( ن ) په ( م ) سره بدلون مومي . یا لکه په ( یک گربه) کې چې د ( یک ) په خبروکې په ( گ ) سره اداکیږي.
په لومړي مثال کې ( ن ) په ( م ) سره ځکه بدلون مومي چې د ( ن ) له څنګه یو شونډیز اواز (ب ) راغلی دی او ددغه آواز د تاثیر له امله ( ن ) هم په شونډیز اواز ( م ) سره اوښتی دی.
په دوهم مثال کې ( ك ) يوبې غږه انسدادي اواز دی چې دخپل ګاونډي آواز ( گ ) د تاثیر له امله غږن شوی دی.

**په اسیمیلېشن کې:**

که دمخني آواز پرورروستني اواز باندې اغیز وکړي او وروستنی اواز بدلون ومومي ، یا داچې په یوه څپه ، کلمه یا لغت کې یو آواز که مخني آواز سره همرنګه شي لکه د ( بخښل ) خ + ښ چې په شمال ختیزو لهجو کې سره یو په بل کې مدغم ( خ + ښ = خ ) شوي او بخښل پر ( بخل ) اوښتي دی. دغه ډول اوښتنې ته پراګریسیو اسیمیلېشن ( progressive Assimilation ) یا پرمختګې همرنګي وایي.
او که چیرې وروستنی آواز پر دمخني آواز باندې تاثیر وکړی او دمخني آواز ته تغییر ورکړي، یعنې په یوه څپه ، مورفیم یا کلمه کې یو اواز د وروستي آواز تر آغیز لاندې راشي او دهماغه په رنګ شي. لکه په پومبه او تمبه یا پور لغاتو اګبر ( اکبر) کې اوداسې نور...
دا ډول اوښتنې او همرنګي ته پرشاتګې همرنګي یا ریګریسیو ( Regressive Assimilation ) وایي.

## اسیمیلېشن دوه ډوله واقع کیږي:

یو داچې د داسې آواز په واسطه واقع شي چې دتغییر شوي آواز تر څنګ واقع وي او فاصله ونلري. دې ډول اسیمیلېشن ته متصل ( contiguous ) اسیمیلیشن وایي.
لکه په ( ستا ) او ( زما ) کې .
بل داچې اسیمیلېشن دداسې آواز په واسطه واقع شي چې د تغییر شوي آواز تر څنګ نه وي راغلی داسې اسیمېلېشن ته منفصل ( non congiguous ) اسیمیلېشن وایي.
لکه په دري کې ( سرش) چې په ( شرش ) سره تلفظ کیږي .په دې مثال کې لومړی ( س ) دوروستني ( ش ) دتاثیر له ( امله په ( ش ) سره تبدیل شوی دی اود (س ) او (ش) تر منځ نور فونیمونه راغلي دي.
دمورفو فونیمیکي بدلون یوبل قسم دیسیمیلېشن ( dissimilation ) نومیږي.
دمورفو فونولوجیکي اوښتنې هغه ډول دی چې په یوه ژبني چاپیریال ( مورفیم ، کلمه ، څپه ) کې یو آواز دوه ځایه ( مکرر ) واقع کیږي. که چیرې نوموړی آواز له نوموړو دوو ځایونو څخه په یوه ځای کې په یوبل آواز سره بدلون ومومي یا همرنګ اوازونه سره ناهمرنګې شي ، دغې عملیې ته ډیسیمیلېشن وایي. لکه د ( نمونځ) او ( لمونځ) په کلموکې د ( ن ) بدلون په ( ل ) سره.
دمورفوفونیمیکي اوښتنې یوبل قسم قلب ( methathesis ) دی: داهغه غږبدلون ته وایي چې دیوه مورفیم ، کلمې یا څپې داوازونو په ترتیب او اوډون کې پیښیږي. لکه په ځمکه – مځکه ، روځ – ورځ لویشت ولیشت – ږغ ، غږکې
دفونیمونو غورځیدل یا حذفیدل ( Omission )هم مورفو فونیمیکي بدلون بلل کیږي:

چې له یوې کلمې، مورفیم یا څپې څخه یو اواز وغورځي او کم شي.
لکه: پېړ ( پیړۍ ) ، څرخول ( چرګ خول ) ، څلويښت – څلويښ همدارنګه دفونيمونو زياتوالی ( افزايش ( Addition ) هم په مورفو فونيميکي بدلون کې شميرل کيږی داهغه پيښې ته وايي چې په يوه ژبني چاپيريال ( مورفيم ، کلمه ياڅپه ) کې يو اواز هسې ديوه خواږه آهنګ يا ( euphony ) په توګه زيات شي بې له دې چې کوم مورفو فونولوجي بدلون پيښ کړي.
لکه د ( ن ) زياتيدل تر ( ګ ) له مخه په منګر ( مګر ) او مونږ ( موږ) يا د ( د ) زياتيدل په ( ن ) پسې.
لکه په چمند ( چمن ) ، سيند ( سين ، دروند ( درون ) او ارماند ( ارمان ) کې.

## دپښتو ژبې بشپړه فونيميکه الفبا:

### ۱ بېڅې يا الفبې ( الفبا ):

دهغو ټولو تورو ډلې ته وايي چې ديوې ژبې د ټولو آوازونو انځورونه کوي.
بشپړه الفبې هماغه ده چې دهريوه آواز لپاره يوه نښه ( توری) ولري. دغه ډول الفبې ته فونيميکه الفبا وايي.
موړفونيميکې الفبا ته څه اړتيا لرو؟
ددغې پوښتنې په ځواب کې داسې ويلای شوچې :دپښتو ژبې غړيز خصوصيتونه داوسني معمول ليك په مرسته په اصلي او واقعي بڼه نه څرګنديږي او ددې علت دادی چې:
۱- دپښتو ژبې په اوسني ليك کې ځينې واولونه د کلمو په ځينو برخو کې مشخصې علامې ( ګرافيمونه) نه لري.
لکه: ( ژړل) کلمه چې دپنځو فونيمونو (غړيز واحدونو) ( ž-a-r-∂-L ) څخه جوړه ده ، خوپه اوسني ليك دود کې يوازې په دريوو تورو ( ژ_ړ_ل) سره ليکل کيږي.
۲- په اوسني ليك دودکې څو مختلف فونيمونه په يوه توري سره ليکل کيږي. دپښتو ژبې دبيلو ، بيلو فونيمونو لکه : / o / ، / u / او / w / دپاره په اوسني مروج ليك کې يوازې يوتوری (و) شته چې مثالونه يې په لاندې کلمو کې ليدلای شو:
کور / kor /
سور / sūr /
خوړل / xwar∂L /
۳- به پښتو معمول ليک دود کې د زور / a / او زورکي / ∂ / فونيمونو دپاره چې دکلمو په پای کې راغلي وي يوازې يوه علامه يعنې ( ه ) ګردك شته . لکه:
زړه / zṛ∂ /
زړه / zaṛa /
پسه / ps∂ /
شپه / špa /

**په کلموکي:**

۴- په اوسني معمول پښتو ليك کې کله کله ديو فونيم دځرګندولو دپاره دوه توري ليکل کيږي.
دمثال په ډول د ( اوبه) ، ( اوږه ) ، ( اور) کلمې چې په سرکې يې يوازې يو فونيم ( o ) دی ، خو په ليك کې يې دغه يو فونيم په دوو تورو ( ا + و ) سره ليکل کيږي.

لکه:

| مروج ليك دود | فونيميکه بڼه |
|---|---|
| اوبه | / ob∂ / |
| اوږه | / or∂ / |
| اور | / or / |

په همدې ډول دپښتو ژبې دفونيمونو اوګرافيمونو ترمنځ پوره سمون نه ليدل کيږي.

په هر صورت دا اوداسې نور ضرورتونه ددې سبب شو چې دپښتو ژبې د آوازونو دښودلو دپاره يوه داسې فونيميکه الفبا جوړه شي چې له يوې خوا په ژبنيو ځيړنو کې زموږ دپوهانو ترمنځ يوه کره جوله ( بڼه ) غوره کړي او دبلې خوا ځخه دپښتو ژبې د آوازونو دښودلو دپاره يو داسې نړيوال سيستم ځخه کار واخستل شي چې هغه نړيوال شهرت ولري.

همدا وجه ده چې دپښتو ژبې پوهانو هم دځپلې ژبې دغږونو دافادې دپاره يو فونيمك سيستم ( فونيميکه الفبا ) وټاکله چې په لاندې ډول سره ښودل کيږي:

## دپښتو ژبې بشپړه فونيميکه الفبې

| معمولي ( دوديز) توري | فونيميك توري | مثالونه | فونيميك تلفظ |
|---|---|---|---|
| ا | a | سر ، اتل | sar ، Atá́l |
| آ | ā | آس ، وياړ | ās ، Wyāṛ |
| ب | b | بار ، اوبه | bār ، Ob∂ |
| پ | P | پښتو ، ځپه | paṣtó ، Capa |
| ت | t | تور ، توت | tor ، Tūt |
| ټ | t | ټول ، پټ | tol ، P∂t |
| ث | s | ثابت | Sābit |
| ج | j | جوړ | Joṛ |
| چ | č | چاکو | čākū |
| ځ | ǰ | ځای | J̄āy |

| | | | |
|---|---|---|---|
| Cok | څوك | c | څ |
| Hāsil | حاصل | h | ح |
| xor | خور | x | خ |
| dod | دود | d | د |
| ḍer | ډېر | ḍ | ډ |
| zaki | ذکي | z | ذ |
| Rap | رپ | r | ر |
| ṛūnd | ړوند | ṛ | ړ |
| Zoṛ | زوړ | z | ز |
| žwand | ژوند | ž | ژ |
| Ẓağ | ږغ | ẓ | ږ |
| Sam | سم | s | س |
| šlūmbé | شلومبې | š | ش |
| Ṣağ∂lay | ښاغلی | ṣ | ښ |
| sādiq | صادق | s | ص |

| فونيميك تلفظ | مثالونه | فونيميك توري | معمولي ( دوديز) توري |
|---|---|---|---|
| Zarar | ضرر | z | ض |
| Tāqat | طاقت | t | ط |
| Zālim | ظالم | z | ظ |
| 𝒚ādat , wa𝒚dá | عادت ، وعده | 𝒚 | ع |
| ğamay | غمی | ğ | غ |
| Fāsila | فاصله | f | ف |
| qānūn | قانون | q | ق |
| kār | کار | k | ك |
| gaḍ | ګډ | g | ګ |
| Lās | لاس | ℓ | ل |
| Moṛ | موړ | m | م |
| N∂n | نن | n | ن |
| maṇá | مڼه | ṇ | ڼ |
| wāda | واده | w | و |
| Har | هر | h | هـ |
| Yor , wyāṛ | يور ، وياړ | y | ی |

| | | | |
|---|---|---|---|
| Kor , ob∂ | کور ، اوبه | o | و |
| Sur | سور | ū | و |
| Sur | سر ( په موسيقي کې) | u | پيښ |
| Imzā | امضا | I | زېر |
| Wir | وير | i | ي |
| Ter , maste | تېر ، مستې | e | ې |
| Saṛay | سړی | ay | ی |
| Hel∂y | هيلۍ | ∂y | ۍ |
| Nik∂ , zṛ∂ | نيکه ، زړه | ∂ | زورکی |

**پوښتنې:**

۱- مورفو فونيميکي بدلون څه ته وايي ؟ په مثالونو کې يې وښيئ.
۲- مورفو فونيميکی بدلون په څو ډوله پيښيږي؟
۳-دپښتو ( خوړ) او ( خور) تر منځ څه ډول بدلون ګورئ؟
۴- اسيميلېشن څه ته وايي؟
۵- دپراګريسيو او ريګريسيو اسيميليشن ترمنځ څه توپير ګورئ په مثالونو کې يې وښيئ؟
۶- متصل او منفصل اسيميلېشن په مثالونو کې وښيئ؟
۷- ديسميليشن څه ته وايي په مثالونوکې يې وښيئ؟
۸- په ځمکه او مځکه کې څه ډول مورفو فونيميکي بدلون ګورئ ؟
۹- دفونيمونو حذف کيدل يا غور ځيدل يعني څه ؟ مثالونه يې وواېئ؟
۱۰- الفبې تعريف او فونيميکه الفبا څه ډول الفبا ده؟
۱۱- فونيمکي الفبا اړتيا په څه کې ده؟

**اخځلیکونه**


۱- الهام، محمد رحیم ، روش جدید در تحقیق دستور زبان دري ، کابل ، ۱۳۴۹ .
۲- اڅك، بایزید، فونولوژي لکچر نوټ ، کابل پوهنتون ادبیاتو پوهنځی.
۳- الکوزی، جانداد ، فونولوژي لکچر نوټ، ننګرهار پیداګوژي انستیتوت ، ۱۳۶۵
۴- پنزل هربرت ، پښتو ګرامر ، ( دمحمدرحیم الهام ژباړه) کابل ، ۱۳۴۰.
۵- پښتو – پښتو تشریحي قاموس ، لومړی ټوك ، دافغانستان دعلومو اکادمي ، ۱۳۵۸.
۶- خیال، بخاري عظیم شاه ، صرف و نحوپښتو ، پیښور دویم چاپ ۱۹۸۷ م .
۷- رښتین، صدیق الله ، زبښونه ، کابل ، ۱۳۴۲.
۸- تږی ،حبیب الله ، نوې ژبپوهنه اوژبني مسایل ، کابل پښتو ټولنه ، ۱۳۴۵.
۹- زیار، مجاور احمد ، دژبپوهني بنسټونه ، د ادب پوهنځی ، ۱۳۵۳.
۱۰- زیار .مجاور احمد، پښتو پښويه ، کابل پوهنتون ، ژبو ادبیاتو پوهنځی ۱۳۶۳.
۱۱- شاکر ،نور احمد ، ژبنۍ څېړنې ، کابل پوهنتون ، ژبو ادبیاتو پوهنځی . ۱۳۵۰.
۱۲- حبیبي ،عبدالحی ، دپښتو ادبیاتو تاریخ ، لومړی ټوك.
۱۳- کړیزی نورمحمد ، دپښتوپښويه ( ګرامر ) ، ۱۳۴۸.
۱۴- خویشکی، محمد صابر ، پښتو غږ پوهنه او وییپوهنه ( فونو لوژي – مورفولوژي ) دافغانستان دکلتوري ودې ټولنه جرمنی ، ۱۳۸۰ .
۱۵- هلالي، عبدالحکیم ، دپښتو ژبې فونولوجي ، دافغانستان دعلومو اکادمي ، ژبو او ادبیاتو مرکز کابل ، ۱۳۸۰.
۱۶-یمین محمد حسین ، دستور معاصر زبان پارسي دري ، کابل ، بنګاه انتشارات میوند، ۱۳۸۴ ه.
۱۷- زیور دکتر زرغونه ، پښتوګرامر لومړی برخه ، درسی لکچر نوټ ، دژبو او ادبیاتو پوهنځي ، ۱۳۶۰.